# دا نا امني دچا ډالی ده
## شپږم برخه

حبیب الله غمخور

دپاکستان بنسټپالو ګوندواوضیا الحق تل شعار ورکاوه چي ((موږ دآموتر رود پوري دافغانستان په نوم سرحد نه پېژنو))

اور پر بل ؤ له پخوا نه خو اوس سکور شو　　　دنیستی غږ ئي په درست جهان کي خپور شو
ټول دمرګ اوبد بختی فریاد فریاد شو　　　خوږ وطن مي ،خوارېږ ولس ته ګور شو

عبدالوهاب سرتیر

### د ۲۰۰۱ سپټمبر ۱۱ مه په افغانستان کي دنوي سیاسي دور پیل

که د ۲۰۰۱ زکال حوادثو ته ځیر شوداکال دافغانستان اونړی لپاره یو له حوادثو نه ډک کال و.پدې کال کي طالبانو دبن لادن دسپارلو نه ډډه وکړه او امریکا ملګروملتودسازمان دامنیت شورا اوروسانو په مرسته د طالبانوپرحاکمیت اقتصادي بندیزونه زورورکړه تر څوطالبان مجبورشي بن لادن امریکااویاکومي نړیوالي محکمې ته وسپاري .خوطالبانو دامریکادهرډول تلاښونوپه نتیجه کي بن لادن هغوي ته ونه سپاره ،له همدي امله امریکاپر طالبانو دپوځی حملې دسرته رسولو په موخه تابیه نیول پیل کړه ترڅودوسلې په زور دبن لادن مړاویاژوندی دوي ته وسپارل شي .

په همدي کال طالبانودپاکستانی ملایانواواستخباراتي کړیو په هڅونه دملاعمر اخند د ۲۰۰۱ کال دفبروري د(( ۲۶)) فرمان له مخې دمارچ د میاشت پر یولسمه دټولو افغانانو اونړیوا لو دغوښتنوپر خلاف دبامیانو دبتانو دنړولو پرېکړه عملي کړه . د طالبانو له دغي پریکړې تر پلي کېدو وړاندي د ملګروملتونودسازمان عمومي منشي کابل اوکندهار ته خپل ځانګړي استازي واستول،ترڅودطالبانوله مشرانو سره د بودا دبتان ودنه ړنګیدو په اړه خبري وکړي . یونسکو هم دنړۍ له اسلامي سازمان څخه غوښتنه وکړه چي طالبان له دغې پریکړې واړوي . دبودا د دین لارویانو د طالبانو ددغې پریکړي له امله په ټو آسیایي هیوادونو کې په لاریونو لاس پوري کړ،خو طالبانو دهیڅچا ونه منله په بامیانو کې زموږ دهیوادلرغوني تاریخ بهترینې نمونې دبودا لوی بُت (صلصال ) ۵۵ متره او شمامه کوچنی بت ۳۳ متره لوړ والی او ((۱۶۰۰ ))کاله لرغونتیا ئي درلودپه چاودېدونکو موادو له منځه یوورړ. دبشریت دتاریخ اوزموږدهیواد دفرهنګی میراث پر خلاف دپاکستان دادسیسه هم بریالي شوه. دنوموړي تحریک د مشرملا محمد عمر دفرمان د ملاتړ په موخه دعلماوو شورا او ستري محکمي په هیواد کي دټولو هغو اثارو د له منځه وړلو دستور صادر کړچي دهغوی په تعبیر د اسلام له دین سره په ټکر کي واقع وو.

دطالبانودحاکمیت په دوران کي پر تلویزیوني ،رادیویي اوچاپي نشراتو بندیزولګېد ،هغه څه دنشر وړوه چي ددوي خوښ اوددوي له ادیالوژی سره برابروه ،دبیان اوعقیدې ازادی چي په اسلام اوبشردحقوقودنړی وال سازمان په منل شوي اعلامیه کښي تسجیل شوي تر پښولاندي شول اوپرڅېره راوړل ئي کفر وبلل شو ، دښځو رواحقوق اوازادي دمنځنیو پېړیو دناروادستوروقرباني شول دهغوي پر ژوند باندي عجیب اوغریب بندېزونه ولګېدل ،په دولتي اودبهرنیوموسسو په دفتروکي ئې دکارکولو اجازه نه درلوده،دکابل په ښارکي غازي لوبغاړي چي دسپورتی لوبولپاره له جوړسوی و په قتل ګاه بدل شو ،دلته هره ورځ بیګناه انسانان په مختلیفو بڼو وژل کیده.په حقیقت کي دامربل معروف ونهي علل منکر اداره په دولت کي یوبل دولت واودپاکستاني استخباراتو تر مستقمې اداري لاندي وه .البته همدلته هم باید یادونه وشي ، همدا اوس چي دبشرد حقوقو نړیوال مدافعین اوداعلامیې په وړاندي مسولین په افغانستان کي دغه اوسنی حاکمیت تر خپل مالي ،مادي اوسیاسي نفوذاوحمایې لاندي ساتي دوي هم ددغې مسلې سره چندان علاقه نلري یعني پدغه حاکمیت کښي هم دبشرپر حقوقواومسلموازادیوباندی تیری شوی ،البته شمیراوشکل ئي یودبل سر فرق لري ،هغه وخت ډله ایزو رسنیو داحق نه درلود داخبره دنړیوالو ترغوږو ورسوی اویاکومه مدني ټولنه یادبشردحقوقودفاع ټولنه فعالیت وکړي،خو اوس یو نیم بنده حق ورکه سوی هغه پدې بڼه که

کوم ژورنالیست اوکوم کس پدې ښه ډاډه شي چي په قانون کي داحق شته اودقانون له مخې دزرو اوزورخاوندانو گټوته گوته وروړی نو ډیر ژر هغه بېچاره سر خوري لکه په هلمند کي شهید روحاني اويا په کابل کي نصیر احمد فیاض چي مړی اوژوندی ئي ورک شو .
له بدمرغه ښوونځی ،عالي اومسلکی تحصیلاتو موسسې په مدرسو بدلې شوې ،دعصري علوموپر زده کړي اوله هغو نه پر استفادې بندیزولگېده . داخبرداسي تعبیر نشي چي زه دمدرسو سره خداي نخواسته مخالفت لرم ،نه هیڅکله نه ،زه دیومسلمان په توگه داخبره اړینه بولم چي زموږ ځوانان اوماشومان باید داسلام په پنځو بنا وپوره پوه شي ،په اسلام کښي لکه په نوروټولنیزو علوموکښي دومر عالي درسونه شته چي په هغه باندي پوهاوی دهرافغان دیني دنده بولم ،مگر پدې هم باورلرم چي دیوه هیواد دټولنیزو ،اقتصادي ،سیاسي چاروتنظیم لپاره دعصري علومو رواج اوپه هغه باندي پوهاوي ته حتمی او ضروري اړتیا شته . موږباید خپل افغان ((انجینر ،ډاکتر ،ښوونکی ،استاد ،لیکوال ،شاعر ،ادیب ، پیلوټ ،مسلکي افسر ،دولتي روزل شوی مامورین په لسهاونورو مسلکونوکي روزل شوی خلک )) نارینه اوښځی ولرو. موږباید لکه دنړی بل هر هیوادفابریکې ،غښتل زراعتي اومالداري سیستم ولرو ،پیاوړی اردو ،له هر پلوه مجهز روغتونونه اولابراتوارونه ،دعالي اومسلکي تحصیلاتو موسسې ،ښکلي تعمیرونه اوښارونه جوړکړوداټول ماهرو کسانوته اړتیالري ،نو ولي موږباید همیشه پردوته اړتیا ولرو؟ ولي ددوي ماهران زموږپه خاوره کي کاروکړي؟ اوخپل مودلوړی مړه سي ،پدې خاطر چي دهغوي څه نه دي زده .که څه هم ملي غروراجازه نه راکوی خودزړه دبړاس ایستلو لپاره دومره ویلاي شم چي دافغانستان مذهبي سیاسي ډلي اوتنظیمونه ئي باید له همدي نږدې ایراني اخوندانوڅخه زده کړی اوکه دنړی له نورومسلمانانولکه پاکستان ،ترکیه عربی نړئ دهیوادوله تجربیونه استفاد وکړي موږبه هیڅ مشکل اوستونزه ونلرو. دغه تریخ حقیقت باید ومنوچي پاکستان اوISI پلاسوجوړسو پاکستاني مذهبي ډلومشران زموږ خلک داسلام په نامه غولوي ،هرڅه راباندي ورانوی اوکه له دوي نه پوښتنه وکړې چي تاسو ولي داکارنه کوی؟ نودوي واي موږ این لرو ،دبېلگې په توگه کله چي طالبانو دبامیانو بتان والوزول ،څه موده وروسته دمولانا فضل الرحمن څخه یو ژورنالیست پوښتنه وکړه چي تاسو طالبان دبامیانو دمجسمو دورانولو لپاره وهڅول خوستاسو په هیوادکي هم داسي مجسمې شته هغه ولي نه ورانوي ،هغه په جواب کي ورته وویل .((موږداکار نه دي کړی ، داخپله طالبان ناپوه خلک وه چي داکار ئي وکړ،موږ آین لرو دلته قانون شته اونور...))
خودپردي شاته داپاکستاني چارواکي وه چي دافغانانوسره دژوري دښمنی پوره کېدوپه خاطرئي هغه څه وکړه چي ددوي په نامه ئي پښتانه دنړیوالوپه ذهنیتونوکښي دعلم او فرهنگ ،دموکراسی اوټولنیزعدالت ددښمنان معرفي کړه اودنړیوالونفرت ئي دافغانانوپه ځانگړې توگه پښتنوپه مقابل کي راوپاراوه .
ددې ټولو ناخوالوسره دطالبانو ملي اړخ پدې وتوانید چي ددوي تر حاکمیت لاندي سیموکي امنیت راولي ،پاټکونه ونړوي ،تنظیم سالاري ورکه کړي اوخلک دشمال ټلوالي اودهغوي دپلویانو تنظیمو له شرنه خلاص کړي،دکوکنارو کښت دامریکایانودغوښتنې پر بنیاد کم اومخ پر ورکېدو شو. زموږدهیواد کورنیو اوبهرنیو دښمنانودخپلو همدغو پېژندل شوو افغانستانیانو ،خراسانیانواوپښتنوضدڅېروپواسطه غوښتل دا هیواد دړې وړې کړي ددې لپاره دوي دخپلو لاسپوڅوپه واک کښي ټول ،مالي ،مادي اوتبلیغاتي امکانات ورکړه ،له نېکه مرغه دغه دسیسه دطالبانو ملي او افغاني اړخپه نتفه کي شنډه اوناکامه کړه.
غواړم دانصاف له مخې داڅرگنده کړم پر افغان ولس باندي دطالبانوپه نامه دبدبختیو دراوستلو عامل اوپدې هکله ملامت یوازي طالبان ندي بلکی ،لکه چي وویل شوه دپاکستان دولت ،سعودي عربستان ،عربي عمارات ،دامریکااو انگلستان دولتي اداري اوچارواکي هم له دوي سره پدې جرمونوکي شامل دي . داچي ولي ؟ ددې خبر سپړل یوه لوي بحث ته اړتیالري که ژوند یاري وکړه یوه ورځ به داخبره هم راوسپړو چي ولي یوازي طالبان ملامت نه وه ؟ دخپلي خبري دپخلي لپاره باید څرگنده کړم کله چي په ۲۰۰۱ کال دسپتمبر دیولسمې پېښهٔ وشوه اوسمدلاسه دبن لادن اوطالبانو نوم چي دوي پدي پېښه کي لاس لري پر ژبوشواوامریکادوي دله منځه وړلو اوملامتیاخبري

راپورته کړي نودامر یکاپه کانګرس کي دکلفورنیادایالت دجمهوریت غوښتو نکودګوند استازی ((داناروراباکر)) دهمدې کال دسپتمبرپر ۱۷ مه کانګرس ته په خپله ویناک په ډاګه څرګنده کړه چي دطالبانوپه رامنځته کېدوکښي امریکاډېر مهم رول درلود ،همدا امریکاوه چي پاکستان، سعودي عربستان اودخلیج هیوادونه ئې دطالبانوملاتړ اودهغوي دحاکیمت ټیګولوته هڅول ، خو اوس سرځیني ټکوي .

دسعودي عربستان داستخباراتو رییس امیر ترکي الفیصل د ۲۰۰۱ په لومړیوو ختو کي چي طالبان لا پرقدرت وه د ((MBC)) تلویزیون دلومړی کانال سره په مرکه کي دطالبانو اوپاکستان دښو اړیکو دتائیدپه توګه وویل چي زه په ۱۹۹۵ کال پاکستان ته ولاړم اوهلته مي دبینظیري بوټو اونصر الله بابر سره ولېدل بابر راته ویل چي(( طالبان زما بچي دي )).

دپاکستان پخوانی صدراعظمي بېنظیر بوټوپه لندن کي ژورنالستانوته وویل :(( دطالبانودرامنځ ته کېدوفکردانګلیسا نوسره پیداشو ،مشري ئې امریکاپرغاړه درلوده ،لګښتونه ئې سعودي عربستان ورکول ،اومادهغوي لپاره امکانات برابرکړه اودهغوي طرحه مي عملي کړه .))

دامریکا افغاني سیاست دطالبانو دملاتړ نه بیادطالبانوتر نسکورېدوپوري دامریکادستراتېژۍ دبدلون په معناندی ، بلکي دغه هیوادپدې وتوانیدچي خپلي ستراتیژیکي اواقتصادي موخوته درسېدولپاره اوچت اوکو ټلي ګامونه پورته کړي .

دطالبانودحکومت په ړنګېدواوپه افغانستان کي دامریکایي ځواکونوپه پلي کېدوسره د افغانستان له لاري په سیمه کي دامریکاسترو اهدافوته درسېدولپاره ددوي په وړاندي لوي لاري خلاصي شوې ، سره لدې چي ددوي تر اټکل زیاتي ستونزمنې اودتلفاتوسره مل دي .

اوس امریکا په مرکزي اسیاکي دخپل نفوذ دپراخېدواوپر دې سیمه دځاراوهمدا ډول دقفقاز ،مځنۍ اسیا ،اودکسپین دبحیرې زیرموته دلاس رسي اودانتقال لپاره داقتصادي اولنډولاروځخه داستفادې امکانات تر لاسه کړه . اوله بلې خوا په افغانستان کي دامریکادپوځي ډلګیوځاي پرځاي کېدوسره ایران نورهم په یوه وړه اوتنګه حلقه کښي کلابند شو .

په همدې ۲۰۰۱ کال دسپتمبرپر ۹ دشمالي ټلوالي یو قوماندان احمدشاه مسعودژورنالیستانو په نامه دنامعلومو کسانو لخوا په قتل ورسېد ،دغه کسانو بوه اونۍ داستاد سیاف سره تیره کړي وه او وروسته دسیاف په سپارښتنه احمدشاه مسعوددهغوي سره مرکې ته زړه ښه کړ ،مخکي له دې چي مرکه پیل شي دژورنالیستان کامره چي له چاودیدونکو موادونه ډکه وه وچاودېدل هغوي اومسعودئې قربانیان شول ،ځکه اوس ځیني خلک سیاف ، ډاکتر عبداله اوځیني بیامارشال فهیم په پدې وژنه کي شریک بولي ،خوتراوسه ئې قاتلین معلوم نشوه چي څوک وه اودچاپه دستورئې داکار سرته ورساوه .

دسپتمبر د ۱۱مې ورځې پېښې بیاجهان داسي وړلزاوه چي تر اوسه ئې ارام ندی نیولی .

له نن څخه اوه کاله وړاندي دالقاعدې ډلې د امریکا د نیویارک په ښارکي کې دنړیوال سوداګریز مرکز آسمان خراشه مانۍ دملکي الوتکوپه استعمال سره مرګونې حمله اوکړه اودنړیوال تجارتي مرکزدوې دنګي مانۍ ئې ونړولې. د ۲۰۰۱زکال ددسپتمبر په ۱۱مه ورځ ۱۹ ترهګرو چي پنځلس یې دسعودي عربستان وه په نیویارک کښي دنړیوالي سو داګرۍ مرکز (( ۱۱۰)) پوړیز ي مانۍ باندي د ۱۱ لمبر پرواز دیوې ملکي الوتکي پوسیله دنیویارک په وخت دسهار پر ۸ بجو او ۳۰ دقیقوحمله وکړه ،ددغي حملي جریان اودتعمیر سوځېدل دامریکاپه مخلیفوتلویزیوني کانالو کي ښکاره کېده ،پدغه وخت کي چي ۱۸ دقیقي لانه وې تیري شوی چي یوي بلي الوتکي پر دابل تعمیر ورننوتل او تعمیر اور واخیست اوپر مځکه کښنست ،دیوې بلي الوتکي پوسیله په واشنګټن کي دملي دفاع پر وزارت یا پنتاګون حمله وسوه څلورمه الوتکه چي غوښتل یې پر سپینه مانۍ حمله وکړي دسورلیو دفشار په اساس دپنسلوا نیا ښار ته نږدي پر مځکه ولویدل ،تجارتي مرکز اور واخیست او مانۍ ونړېدي تر دریو زرو زیاتوانسانان داور په لمبوکي خپل ژوند دلاسه ورکړ. دیادولو وړد چي وژل

شوی کسان دنړۍ د ۹۴ هیوادواو ۸۰ مختلیفوملتوا ستازي وه ،همدا ډول پدغو کسانوکي دامریکا د اطفائیې ۲۴۳ تنه مامورین چي دلومي تعمیر داور وژلوته یې ځان دحادثې ځاي ته رسولی و هم له منځه ولاړل . اوپر پنتاګون باندي په حمله کي ۱۸۰ تنه ووژل شوه ، پدې پېښه کي دالقاعدې ډلې امریکا ته (۸۰) میلیارده ډالره مالي زیان واړوه .
که څه هم د کتي کلارک په وینا (( دسپتمبر له تراجیدی نه څو اونۍ مخکښې دطالبانو دبهرنیو چارو وزیر متوکل دکوم مرستیال په لاس په پېښور او اسلام اباد کي دامریکې قونسلګری اود ملګرو ملتود سازمان اداري ته خبرداری ورکړی و ، چي بن لادن پر امریکې باندي په دغه مقصد چي په زرګونو امریکائیان له مینځه یوسي دډیر غټ برید کوونکی دی ، خودهغه دغه خبري ته چا غوږ ونه نیوه. شاید له دې امله وچي مرستیال یې دخبر سرچینه نه وه ښودلې .))
په امریکا کې دغه ناورین ددې لامل وګرځید چي په افغانستان کې دطالبانود واکمنۍ ستنې ړنګې شي . دامریکا په متحده ایالاتو باندی له تروریستي بریدونو څخه دا دی اوه کاله تیرشول،خو امریکا تراوسه پورې په دې نه دی بریالی شوې چي دالقاعدې دډلې مشر اسامه بن لادن او دهغه نورملګري ونیسي اودقانون منګلولو ته وسپاري. جالبه لاداچي تر پېښې لږموده وروسته داسي ګنګوسې ترغوږشوې چي ګویاداکار دامریکادا ستخباراتي شبکوله خوا په لاري اچول شوی و. یو شمیر کسان وایي مخکي تردې چي الوتکی په ماڼیو ورننوزي پدغو ماڼیو کښې چاودېدونکي موادځاي پر ځاي شوي وه ،دوي دخپلي خبرې دپخلي لپاره دا دلیل راوړي وایي چي که الوتکې پر تعمیر ورننوتې نوپورته منزولونه اوبیایادوه لاندي منزلونه به وران شوی واي ،داڅنګه وشوه چي دواړه تعمیره له پورته نه تر وروستی منزل پوري له منځه ولاړل .
ددې خبري دپخلي لپاره چي دا(( ۱۱۰ ))منزله تجارتي مرکز تعمیرچي دفولادي اوسپنو په کارولو جوړسوی وو څنګه یودم ړنګ شو په ۲۰۰۶ زکال سپتمبرپر ۲۳ مه دلوموند په ډیپلوماتیک خپرونه کښې درحیمي په نامه یو شخص لخوا راتول شونظریاتوکي پدې هکله لیکل شوی دي چي : ((با گذر زمان، شك و بدبيني بسياري اشخاص و گروه ها در آمريكاي شمالي و اروپا در مورد صحت و سقم گفتارهاي رسمي بيدار گرديد. از ديدگاه آنها، مجموعه اي از شرايط و چيزها در اطراف اين حملات بسيار ضد و نقيض بوده، به هيچ وجه با توضيحات مقامات آمريكايي و كميسيون تحقيق 11 سپتامبر كه از سوي كنگره منصوب شده ،بنام «كميسيون ملي پيرامون حملات تروريستي به ايالات متحده آمريكا» است، جور درنمي آيد. يكي از دلايل عمده اين ترديد آن است كه شاهداني در ارتباط با رويدادهاي 11 سپتامبر وجود دارند كه توصيفي متفاوت از گزارش هاي رسمي ارائه مي دهند. نمونه اي از آن نيز، اظهارات شاهداني عيني است كه باچشمان و گوش هاي خود انفجارهاي دو برج را «پيش» از آن كه هواپيماها به آنها برخورد كنند، ديده و شنيده اند! از جمله اين «تماشاگران» مأموران پليسي هستند كه در محل حضور داشتند. به توصيف آنها، ديده ها و شنيده هايشان به «انفجارهاي درون ساختماني طراحي و كنترل شده» مي مانده است... درست مانند انفجار ساختمان هايي كه با نقشه قبلي و به منظور جايگزين ساختن آنها با بنايي جديد صورت مي پذيرد. «ريچارد باناچيسكي»، مأمور آتش نشاني، در اين ارتباط مي گويد: «درست مانند آن چيزي بود كه در تلويزيون مي بينيم... ساختمان هايي كه خودشان منفجر مي كنند. به نظر مي رسيد كه همه اين انفجارها به طور همزمان و مانند كمربندي در اطراف ساختمان صورت مي پذيرفت.» «استيفن گرگوري»، دستيار كميسر آتش نشاني نيز در اظهاراتش شهادت مي دهد: «چندين جرقه بزرگ در پايين ترين سطح ساختمان مشاهده كردم. مي دانيد، درست مانند زماني كه مي خواهند ساختماني را تخريب كنند.» و اما، شهادت جنجالي ديگري را از «ويليام رودريگز»، كارگر ساختمان مي شنويم كه در روز 11 سپتامبر در برج شمالي كار مي كرده است. او در مصاحبه اي با نشريه «نيويورك مگزين» مي گويد، در وهله نخست صداي انفجاري شديد را هنگامي كه در طبقه دوم زيرزمين آسمان خراش حضور داشته، شنيده است. او همچنين در مورد وضعيت قربانيان و پوست سوخته بازوان آنها بر اثر آتش اتاقك آسانسور شهادت مي دهد.
«رودريگز» پس از انفجار در محلي كه حضور داشته، صداي انفجار ديگري را در بالاي سر خود مي شنود، كه اين ديگر، هواپيماي «بوئينگ 767» بوده است. «ويليام رودريگز» آخرين فردي بود كه از اين ماجرا جان بدر برد. از او به

عنوان قهرمان یاد و او را به ملاقات با «جرج بوش» و دیدار از کاخ سفید دعوت کردند. بعدها، هنگامي که این کارگر ساده مي خواست از داستان انفجارش در زیر ساختمان بگوید، از سوي مقامات «دور انداخته» شد. همین شخص امروز پیگردي قضایي را علیه همین مقامات آغاز کرده است.)) پدې هکله نورپه زړه پوري معلوماتونه په همدغه ګڼه کي ګران لوستونکي لوستلاي شي .په هرحال تر دغوحملو وروسته سمدلاسه دامریکاجمهوررئیس جورج ډبلیو بوش دغه حملې په شدت سره وغندلې اوهغه ئي تروررستي حملي اعلان کړې .

د امریکادامنیت شورا بېړنۍ غونډه وکړه اوپه ټول هیوادکښي فوقالعاده حالت اعلان شو . ددي لپاره چي دامریکا فضائي له هرډول تیری نه ساتلې وي دامریکا پوځی الوتکو پروازونه پیل کړه ،اووسله ځواکونه دتیارسی په حالت کي سوه . دامریکاپوځي مسولینو اعلان وکړهره الوتکه چي دواشنګتن او نیویارک پر آسمان راځرګنده شي زموږلخوابه وویشتل شي .دناټوسازمان داحمله په کلکه وغندل اودائي ددغه سازمان داساسنامي دپنځمې مادي له مخې دناټوپر ټولو هیوادوباندي یوګزاروباله . امریکاته پروازونه بندیائي لاربي تغیر شوې ،ټولي دولتي اداري وتړل شوې .په ټوله امریکاکښي خلک وارخطاسول اوهره لحظه ئي دیوې بلې حادثې انتظار ایسته .

په امریکا کي داسي پېښه وشول چي دپاکستان ټول پلانونه یي تر یوه حده په اوبو کي لاهو کړه، په برښډه توګه په افغانستان کي داسامه بن لادن داوسېدو او طالب چارواکو دقدرت کمبله مخ پر ټولېدو سوه .

دامریکا سنا ولسمشر ته دومره پیسي او واک ورکړ چي چا ئې تصور نشو کولاي ، تر څو ولسمشر ددوي په وینا دامریکا دښمنان هر چیري چي پټ دي ورک او نابودکړي . ددغي زړه بوږنونکي پېښي دورځي په ماښام دامریکا ولسمشر جورج ډبلیوبوش دامریکا خلکو ته په وینا کي وویل : موږ به دهغو تروررستانو اوهغوتر منځ چي هغو ته یي پناه ورکړې فرق ونه کړو . کانګریس دسپتمبر په 14ولسمشر ته دغه واک ورکړ چي دهغوملتو نو،موسیسو ،یاکسانو پر ضد له ټولوضروري اومناسب زورنه کاروا خلي کوم چي ده ته په اختیارکي ورکړه شوی دي او .... کانګرس ددغه موخي په منظور حکو مت ته د څلوېښتو میلیارډو ډالرو دمصرف اجازه ورکړه .

جورج بوش دسپتمبر په شلمه دکانګریس په یوه غونډه کي بن لادن او دهغه سازمان په دغه پېښه کي تورن وباله، اوطالب چارواکو ته یې داسي اخطار اعلان کړ : ((دامریکي چارواکو ته دالقاعدي ټول هغه مشران وسپاری چي ستاسي په هیواد کي دي ... سمدلاسه او دتل لپاره په افغانستان کي دتروریستانو دروزني کمپونه وتړی ، تروریست دهغو روزونکی او ملاتړ کوونکی اړونده مقاموته وسپاری ، ددي لپاره چي مونږ باور وکړو چي هغوي نورعمل نه کوي امریکا ته دترهګری په کمپونوکي پوره لار ورکړی . دا غوښتني دخبر یابحث لپاره نه دي . طالبان باید سمدلاسه عمل وکړي. دوي باید ترهګر وسپاري یادي دهغو په برخلیک کښي ځانونه ګډ وشمېري .))

دا لومړی ځل و چي امریکا طالبانو ته داسي ګوابن وکړ ،کاشکي داسي ګوابن یي دپاکستان استخباراتي او پوځي چارواکو ته هم کړی وای نوبه یي ګټي زیاتي او تاریخي وای .که رښتیا وویل سي او امریکا حق ته غاړه کښېږدي پاکستاني چارواکوته دامریکالخواداشان التوماتوم به نه یوازي افغانستان بلکي دامریکا په شمول ټوله نړۍ دترهګرۍ له شرنه خلاصه کړې وای . داپاکستان دی چي ددوي په خاوره کي رزول سوي ترور یستان په مصر ،هسپانیا ،فرانسه ،جرمني او انګلستان کي دترهګرۍ دعملونو دتر سره کولو امکانات تر لاسه کوي ،ځکه همدا اوس دپاکستان په مذهبي مدرسو کي چي شمیر یي تر لسزرو ته رسېږي دآي آیس آي تر بشپړي حمایي او کنټرول لاندي دي ترهګر روزل کیږي ، په افغانستان او دنړۍ په نورو هیوادو کي دهمدغو مدرسو روزل سوي خلک ترهګریز ي کړنې اوځان وژنې تر سره کوي.

کله چي دامریکا حکومت دکانګرس ملاتړ تر لاسه کړه دځو دیپلو ماتیکوسفرو څخه وروسته امریکا دنړۍ په کچه دامکانات برابر کړه چي دطالبانو دغه ځواب او بي ځایه مقاومت ته چي بن لادن مسول نه دی ،او یا یې ځرګندول چي امریکا دي دبن لادن دمجرمیت اسناد دوي ته ښکاره کړي او داسي نور دلایل چي منطقي نه بریښېدل ، امریکاته دابهانه پلاس ورکړه چي پر افغانستان وسله وال تیری وکړي او دوسلې داستعمال په زوردطالبانو حکومت را وپرځوي

. دغې موخي ته رسدولپاره امريکا دپاکستان مرستي ته زياته اړتيا درلوده ،که څه هم پاکستاني چارواکوپر طالبانودخپلو موخولپاره لويه سرمايه ګزاري کړې وه ،امريکاپرويزمشرف دې ولړ مالي اومادي امتيازونوپه بدل کښې دې ته وهڅاوه چي دطالبانو اوالقاعدي دسازمان په ځپلوکشي له امريکاسره مرسته وکړي . پاکستاني چارواکي چي پدي پوهېدل که دامريکاسره معامله ونکړي امريکابه لوي تاوان دوي ته پېښ کړې ديولړ امتيازاتولکه پاکستان پر پاکستان باندي دپاکستان داټومي آزمويني په خاطر دامريکا لخوادلګول شوی بنديز ايسته کوم ،پاکستان ته پخواني پورونه چي په ميلياړدو دالره کېدل بخښل دپاکستان اردوته نوي الوتک اومدرنه وسله ورکول اوهمداډول دافغانستان په راتلونکي حکومت کي دپاکستان پلويانوته ځانګړي ونده ورکول وه . پرويزمشرف دا وړانديز ومانه ،خودامريکااونړيوال ټولنې سره يې دوه مخی سياست پيل کړ .پاکستان په سيمه کي دتروريزم سره په نړيوالي مبارزه کي دهمکاری تر نامه لاندي هره مياشت تر ۱۰۰ مليونه زيات داره ترلاسه کوي ،خوهغه سياست خپل کړ چي ((غله ته وايي غلاوکړه اودکورخاوندته وايي بيدار اوسه )) دغې خبري ته به په تفصيل سره په نوروبرخوکي راوګرځو.په ظاهر کي امريکادطالبانو اوالقاعدي دسازمان په ځپلو کي دپاکستاني چارواکودمرستی هوکړه ترلاسه کړه . خوپه عمل کي کله چي امريکاپه افغانستان کي بم باری پيل کړې ،ټول له يوه سره لومړی پاکستان ته ولاړل ،وروسته يوشمير ي چي نه ئي غوښتل نوردطالبانو اويا القاعدي سره تماس ولري خپلو کورونوته راستانه شول .پدغه وخت کي چي دوي پاکستان ته فرار کاوه که په رشتياسره دپاکستان دولتي اوپه ځانګړې توګه پوځی او استخباراتي ادارو غوښتلاي چي دوي ونيسی داکارډېر ساده وو. خودټولوشواهدوله مخي داڅرګنده ده چي پاکستان له امريکاسره دهوکړي سرهم دځپلو راتلونکو ګټولپاره وخوځاوه ،ځکه ئي هغوي ته دا امکانات برابر کړه چي ځانونه دامن سيمو ته ورسوي اوهلته پټ شي .دغه دامن سيمي متاسفانه بياهم دکرښي کوزي خواته دپښتنو داوسېدو سيمي شوې .اوټول هلته ځاي پر ځاي اوپټ شول ،چي همدا اوس له هغو سيمو نه افغانستان ته دنا امنيو لپاره راځی .

د ۲۰۰۱ زکال داکتوبر په اومه ورځ دطالبانو دځپلو اوالقاعدې دسازمان دجرړودايستلو اوددوي په وينا په افغانستان کي ديوملي اودموکراتيک حکومت دجوړېدو اودموکراسی دپلي کېدو تر شعارلاندي زموږ پاکه خاوره يوځل بيادپرديو دبمونو ،راکټونواومډرنو پوځي الوتکولخوا حمله او تېری پيل سو ،امريکا دغې موخي ته درسېدو لپاره دروسي چارواکو په مشوره پر شمالي ټلوالي تکيه وکړه ، دا هغه ځواک و چي ددوي دظلم او وحشت په پايله کي دپاکستان روزل سوي طالب قوت ته افغانانو په دې خاطر چي دشمالي ټلوالي او هغوي دملګروځواکونو له تيريو ، ظلم اووحشت نه خلاص سي غاړه کښېښوده .

دطالبانواوالقاعدي دسازمان دجرړودايستلوپه پلمه دامريکااوهغوي دنړيوالو ملاتړو تېری زموږ په هيواد کي د يوې بلي غميزي او اوږدې نا امنۍ پيل سو. په پاکستان کي په بربنډه توګه مولانا سميع الحق ، مولانا فضل الرحمن او نوروبنسټپالو ډلو په وسيله دټولو مدرسونه ځوانان دپاکستاني داستخباراتواو مليشو په لارښودنه او ملګرتيا دامريکا په مقابل کي دطالبانو په دفاع کي دجګړې لپاره دافغانستان په لور جوپې جوپې روان سول ،افغانستان ته په رسېدو سره طالبانوهغوي دهيواد شمال ته ولېږل ،داکارئې ځکه وکړچي تر دغه وخت دهيوادپه شمال کي دپاکستان پوځی افسران وه ،هغوي غوښتل امريکاپه شمال کي په جګړه کي ښکېله وساتي ،ترڅودوي دبنسټپالوپو سيله دخلکوداحساساتو دراپاراولونوره زمينه هم برابره شي اونړيوالو ته څرګنده کړي چي تاسو ګورۍ موږ دڅومرو سخت سروسره ستاسوپه خاطر مبارزي ته ملاتړو؟ ددغو لېږل شووکسانو يو شميرهلته ايسار او زيات يې ووژل سوه . په پاکستان کي يې دامريکا دبيرغونو په سوځولو سره هره ورځ مظاهري پيل کړي ، پاکستاني پوځيان دموقع نه په استفادې سره دپښتنو په سيمه ورننوتل او دلومړي ځل لپاره يې دډيورنډکرښي ته ځانونه ورسول . جالبه او دپاملرني مسله خو داده چي پاکستان دامريکا نږدې او نازولی دوست دی مگر ددوي په حضور کي دامريکا پر خلاف شعارونه ورکول کېده ،دبنسټپالو او فناتيکو مسلمانو ځوانانو او احساساتي خلکولخوا په مظاهروکي دولسمشر جورج بوش عکسونه اودامريکا بيرغونه سوځول کېده . له دغه حرکت څخه په ګټه پورته کولو سره دپاکستان اساسي هدف داو

ترڅو امریکا او نوري نړۍ ته ښکاره کړي چي په پاکستان کي مذهبي ډلي ډیري قوي دي، ددوي دځپلو لپاره زیاتو پیسو اوکو ټلي ځواک ته ضرورت سته ،ځکه امریکا دوي ته دپخواني قرض دبخښلو په ګډون تر دریو میلیاردډوډالرو زیا تي پیسي اویو په بل پسي نوي جنګي الوتکي اوموډرني وسلې ورکړې،تر څو پاکستان پرې تروررستان وځپي، خو دا هغه خوب دی چي دپاکستان په مقابل کي داوسني سیاست په تعقیب سره به هیڅکله هم رښتیا نسي .

دامریکا دبمباریو پایله داسوه چي داکتوبر له اومي څخه ددسمبر تر اتلسمي ورځ پوري دنږدې(( ۱۰۹۱۵)) کسانو ژوند دلاسه ورکولو په ارزښت ،دطالبانو دواک هغه ماڼي چي ددوي ورته اسلامي عمارت وایه ړنګه او ملامحمد عمر اخند چي پر موټر سیکل دکندهارښار ارګ ته راغلي و ،د همدغه موټر سایکل په سواری یي دکندهار ښار او دعمارت تخت وتاج دپاکستان په لورپرېښود. دپاکستان هغه پلان چي ددوي په وجود کښبي به دډیورنډ لعنتي کرښبي برخلیک اودایمي سلطه خوندي پاته شي یو ځل بیا راتلونکي مهال اونوو پلانو جوړولو او پلي کولو ته معطل پاته سوه . ملا محمدعمر اخنداو طالب چاروا کي په رښتیاسره دځپل بي بنیاده غرور،دهیوادد برخلیک ټاکلو دساده ارزوني، او پاکستاني استخباراتو دنووګټو قربانیان سول .

داسي معلومېږي چي دوي لا اوس هم په دې نه پوهېږي چي پاکستاني چارواکي ددوي اوګران وطن اصلي او اساسي دښمنان دي . متاسفانه داسي ښکاري چي ترډیره به افغانستان دپاکستان دهغوي دنړیوالو دوستانو اود نړیوالو زبر ځواکودقدرت اونفوذ دپراختیاپرسر د جنګي اوسیاسي لوبواوسیالیومیدان وي .

افغانان به دکورسوځوني په جګړه کي خپل خوږ ژونددلاسه ورکوي . زموږ زورېدلي ولس به دبهرني پوځیانوتر پښواوبم اوریولاندي دتحقیر او توهین شپي اوورځي سباه کوي ،پاکستاني اوایراني اخوندان موهڅوي چي اسلام وګټه . نور بیا

## دا نا امني دچا ډالی ده

دوهم جز :

### دطالبانو دواکمنۍ دراپرځولو لپاره دامریکالومړني ګامونه :

دطالبانو دواکمنۍ راپرځولواونوی حکومت دجوړېدولپاره دامریکاپلان درې برخي درلودې .

۱/ دطالبانودراپرځولوپه موخه تبلیغاتي کمپاین .

۲/دوسله وال تیري لپاره اماده ګي .

۳/ دنوي حکومت دجوړېدوپه موخه دنړیوالواوپه ځانګړې توګه د 2+6 هیوادوسره دخبرواومشوروپیل .

دطالبانو پر ضد دمیډیاله امکاناتو څخه په استفادي سره دهغوي پر خلاف دنړیوالو ذهنیت اماده کولو په موخه دامریکا دمطبوعاتو ،راډیو ،ټلویزیون او انترنټ پانوله لاري په نړیواله کچه دوحشت،بربریت،تروریزم اوانسان وژنواصلي ترسره کوونکي یوازي طالبان اودالقاعدي سازمان معرفي کاوه، امریکا ډیر ژرکولای شول نړوالو ذهنیت دخپلوراتلونکو پوځي اوسیاسي پلانونواوحملوسرته رسولوپه موخه اماده کړې . دهمدغو تبلیغاتو پایله وه چي ټوله نړۍ دطالبانو دحکومت دپرزولو اوالقاعدي سازمان دله منځه وړلوغوښتونکي سول .

دامریکاځانګړو استازو دنړي دیوشمیر اسلامي هیوادو او د 2+6 هیوادوله مشرانو سره خبري اوسلا مشوري پیل کړې ،هغوي ئي پدې قانع کړه چي دطالبانودحکومت دراپرزېدواوالقاعدي دسازمان دجرړودایستلولپاره وسله واله حمله اړینه ده . دهمد تلاښونوپه پایله کي امریکا بریالی شوه پدې هکله دامنیت شوراپرېکړه ترلاسه کړي .دغه ډول پدغو لیدنو کتنوکښبي دراتلونکي دولتي سیستم او اداري دجوړېدوپه اړوندهم یولړ مشورې تر سره شوې،دسعودي عربستان ،روسې،ایران ،پاکستان اوهندوستان نظروته پاملرنه وشوه،البته دازبکستان ، تاجکستان ،قزاقستان ،اوترکي علاقمندی هم له پامه ندي غورځېدلي .

دامریکا حکومت دسي آي آې دکارمندانو په وسیله دافغانستان په دننه اوبیرون دځینو افغانانوسره اړیکي ونیولي دهغه جملې نه دشمالي ټلوالي په څنګ کي یې دمرحوم حاجي عبدالحق جبارخیل چي په خپل قوم کي دلوي اعتبار

خاوندو اوحامد کرزۍ سره چي دپوپلزو په قوم کي دخپل مرحوم پلار دشناخت او اعتبار څخه په استفادې سره يي کولاي شوه دطالب چاروا کو پر خلاف دکندهارخلک راوپاروي ،او پخوانۍ پاچا محمد ظاهر شاه وچې امريکا دهيواد په راتلونکي برخليک کښي د ونډي خاوند ګاڼه او دسولي په راوستلو کې يې دده ونډې ته زيات ارزښت ورکاوه . امريکا داسي انګېرلې وه چې داکسان کولاي سي خلک دطالبانو پر خلاف راوپاروي . پردغواهدافوکار پيل شو ،کرزی ددي لپاره چي دراتلونکی موقتی اداري مشرئي وټاکي له امريکا نه کندهااوبيادروزګان ولايت ددهراود ولسوالی ته ولېږ شو ، دامريکا اوغربي راډيو ګانوپه تبليغاتوکي داسي ويل کېد چي ګوياله طالبانوسره په جګړه کي تر دغه سيمي پوري رسېدلي دی خوپه حقيقت کي داسي نه وه ، يعني شاهدانوماته ويلي چي هغه (کرزی)نابېره دهراودپه ولسوالي کي دمعلم اشرف په نامه ديوسړي سره چي پخوانی تنظيمي قوماندان و راڅرګند شواودهغه په کورکي اوسېده . حقيقت هم دادی ځکه طالبانو ترکرزي هلته زيات نفوذ درلود اوبل کرزي په روزګان کي بېله همدغه معلم اشرف نه بل چا سره کومه شخصي پېژندګلوي اونږدې اړيکي نه درلودې .همدغه معلم اشرف کرزی صاحب تر پايه وساته اودبن دکنفرانس تر پرېکړي وروسته ئي هغه تر بګرام پوري بدرګه کړ . دغه معلم صاحب اوس دملي امنيت ديوي اداري په غټ ګمان دلسمې اداري مسوليت پرغاړه ري .

کله چي کرزي يوازي بيله کومې ارګاه اوبارګاه نه دبګرام په هوايي پوځی ډګرکي چي له يوه سره په امريکايي الوتکو اوټانکونوډک ودپوځی څرخی اولوتکي نه راکښته سوی ودهغه اوفهيم دروغبړ پر وخت دخبرو په هکله ښاغلی ډابنز دبن په کنفرانس کي دامريکا دجمهوررئيس ځانګړی اومهم استازي په خپل د((تر طالبانو را وروسته)) کتاب کي چي ښاغلي هاري صاحب لخوا ورباندي کرکتنه شوې ليکي : کله چي کرزی په دوولاسو او پښو کابل ته ورسېد ، فهيم په حيرت له کرزي څخه پوښتنه کوي((ستا عسکر چيري دي؟)) کرزی په جواب کي وايي : (( تاسو زما عسکر ياست .)) حال داچي همدې فهيم کله چي د مسعوداورباني په دوران کي دامنيت رئيس وکرزی بندي اوسپک کړی وو. بلې دا رښتيا ده کرزي په ډېر مشکل ئي دبهرنيو چاروو وزارت له ماڼۍ نه چي پکښي دفهيم لخوا نظربنده شوی وفرار وکړی ، اوتر کارته مامورينو پوري په تېښته بريالي شو ،په کارته مامورين کي ديوچاپه کور ورننوت اوله هغه ځايه بيا همدغه افغان چي زړه ئي ورباندي سوځېدلی و تر پېښوره پوري رهمنايي اوتر هغه ځايه دتګ لپاره مرسته ورسره وکړه.

مګرکله چي ښاغلي کرزی دکابل پر تخت کښېناست دغه بېچاره ئي بيا ياد هم نکړ ،اوفهيم ته ئي پناوروړه،چي نه ئي بايد داسي کارکړي واي .

خوښاغلي کرزی د ابد لپاره دروزګان اودهراود دخلکو ښه نېکۍ هيرې کړې اوهغوي ته ئي شا ورواړول . البته تر ما پوري داسي اوازې را رسېدلي چي ددوهم وار ټاکنو لپاره غواړي يوځل بياهم هلته خپل پلويان وګماري ،خوپدې هيله چي دروزګان غيرتی ولس نور دهغه وصندوق ته يوه رايه هم وانه چوی اوکه ئې چيري اعلان وکړ چي ګويادروزګان خلکو دته رايه ورکړې،دغه اعلان د ردپرخلاف هم بايدکلک غبرګون څرګندکړي .داخبره ددي لپاره کوم که څه هم دټاکنولپاره څو مياشتي پاته دي ددي خبري په پوهيدوسره چي هر بل څوک اوياکرزی به هغه وخت دجمهوري رياست مقام خپلوی چي دامريکاورسره خوښه وي ،خوبيابه هم دتير ځل غوندي يو شکلي دټاکنوپه نامه به کامپاين پيل اودټاکنوپه ورځ به خلکوته بلنه ورکړه سي چي خپلي رايي وکاروي ،پدې رايو کي به هم دتير ځل پشان درغلي وي اودهمدغودرغليوپه پايله کي به ممکن اعلان وشي چي دروزګان خلکو دومره رايي ورکړي ،نوځکه مي وويل چي رايي مه ورکوی اودغه ډول اعلان په مقابل کي کلک غبرګون ښکاره کړی . تر کومه ځايه چي ماته معلومات شته خلک دکرزی اودهغه له پلويانو څخه ښه زړه نلري اونه هم غواړي دغه خلک يوځل بياددوي په نامه پر دوي امران وټاکل شي . خير په هر صورت رابه شو اصلي موضوع ته .

امريکاله له مرحوم عبدالحق نه وغوښتل چي له پاکستان څخه دلوګر له لاري دکابل په لور وخوځېږي ،په لوګر اوپه کابل کي هغه ته ځانګړې دندي سپارل سوی وې ،داسي معلومېږي چي پاکستان نه غوښتل دغه دندي دقوماندان عبدالحق په وسيله سرته ورسېږي اويادغه دندي پلي شي ،ځکه نو ترکومه ځايه چې دوي پدغه پلان خبر وه او دحاجي

عبدالحق دسفر مقصد اولار ورته معلومه وه دطالبانو اوالقاعدي دسازمان دمربوطو خلکو په وسیله ئي مرحوم حاجي عبدالحق جبار خیل افغانستان دتگ پر لار مخکي له دینه چي کابل ته ورسېږي دلوگرپه شاوخواکي ناځوان مردانه په شهادت ورساوه . په رشتیا سره دهغه په مرگ زیات پښتانه خفه سول اود هغه دمرگ په غندلو سره یې پرطالبانو ډېري سختي نیوکې وکړې .له بلي خواد ۲۰۰۱ دسپتمبر د ۱۱ نه راوروسته دطالبانو دحاکمیت دړنگېدو په نامه دستري غمیزي دپیل لومړی قرباني همدا قوماندان عبدالحق شو .اودطالبانو په مقابل کي دپښتنونفرت لانور هم زیات سو ،اودا هڅ چي پاکستان په هیڅ ډول په افغانستان کي دیوغښتلې حکومت دجوړېدوسره علاقه نه لري په پښتنوکې نورهم غښتلی سو.

په ایټالیاکي دظاهر شاه سره تماسونه ونیول شوه ډیرو داس فکرکاوه چي ظاهر شاه به یوځل بیاپه افغانستان کي پاچاوي ،ځکه خودبن په کنفرانس کي هم دظاهر شاه پلویانو اودشمالي ټلوالي مخالفینودشاهي نظام دبیا احیأ پر سره تودې خبري ددوي تر منځ داختلاف یوله اساسي ټکو څخه و. شمالي ټلوالي ته هدایت شوی وچي په هیڅ صورت دشاهي نظام سره موافقه ونکړي ،ددوي سره پدغه نظر کي دپردي شاته روسیه ،پاکستان اوایران هم ملگري وه ،ځکه خوتر زیاتو جنجالو وروسته پرېکړه وشول چي شمالي ټلوالي ته زاتي څوکي اوظاهر شاه ته یوازي په اساسي قانون کي دملت دبابا لقب ورکړه سي . دنظارشوراقوماندان احمد شاه مسعودته بیابناغلي کرزی پر خپل سره دافغانستان دغوڅ اکثیریت ارادي اوخوښي پر خلاف دملي قهرمان لقب ورکړ .

دامریکا متحده ایالاتو دانگلستان په نیغ ملاتړ او همکارۍ دطالب حکومت دوسلوال ځپلوپه خاطرد سي آي آې جگپوړي کارمندان دروسې په مرسته دتاجکستان او ازبکستان له لاري په چورلکو کي پنجشیر ته واستول او هلته یې دفهیم ،یونس قانوني ،ډاکترعبدالله دبهرنیو چاروپخواني وزیرسره دکتلو په ترڅ کي ددوي سره دراتلونکې په هکله خبري وکړې ،شمالي ټلوالي دنده ترلاسه کړه چي دطالبانو پر خلاف دامریکا یانوسره په عملیاتو کي برخه واخلې .

شمالي ټلوالې په همدې خاطر چي دامریکایانو دغه خدمت ته یې غاړه کښېښوده په راتلونکودولتي (موقتي اوعبوري ) ادارو کښي دامریکا په مرسته غښتلې موقف پیداکړه که څه هم امریکایا نو به همدا درک کړې وي چي روسیه هم پدې خاطر دتروریزم پر ضد مبارزه کي دامریکا ملگرې سوې وه چي دامریکا دشمالي ټلوالي څخه دځمکنیو قواوپه توگه استفادې ته وهڅوي ،کله چي امریکا داکاروکړ ،روسې ډیره خوښي ښکاره کړه او هغه یې دروسي اومنځنۍ اسیا په گټه وبلل . متل دی وایي ((ما پر آسمان غوښته خداي پر مځکه راکړه)) روسانو دا انتظار نه درلود چي امریکایان دي بیا داسي غلط سي چي شمالي ټلوالي بندنامي ډلي او په سیمه کي دروسانو یوازني دوستانو ته داامکان پلاس ورسې چي دا ځل دامریکا د B52 او C130 ډوله الوتکو دبمباریو په مټ دي دوي دکابل ښار،هغه ښارته چي اوسېدونکو یې ددوي له نامه اوڅېرو سره حساسیت پیداکړۍ وداخل سې .

توماس والکوم پخپله ((ایتلاف نامقدس)) مقاله کي چي دافغان رسالي په ۲۴-۲۳گنه کي خپره سوې ده لیکې :

((دامریکا په نظر شمالي ائتلاف په حقیقت کي هیڅ ائتلاف نه دی او باور وربانديې نشي کېداي،لیکن پرته له دوی نه امریکا بل انتخاب نه درلود ،.... ځمکني پوځونو ته دزیاتي اړتیا له مخې په کاروه چي دشمالي ټلوالي له ملېشو څخه دطالبانو پر ضد کار واخیستل سي ،نه دامریکا او لوېدیځ دځمکنیو ځواکونو څخه )) امریکا له دې ډارنه چي په ځمکني جگړه کي به دزیات تلفاتوسره مخ سي پرېکړه وکړه چي د شمالي ټلوالي څخه چې دطالبانو سره کوټلي دښمني هم لري استفاده وکړې .دیادولو وړ ده چي دامریکا ولس هم ددې سره مخالفت کاوه چي دجگړې په پیل کې دي په ځمکنیو عملیاتو کې امریکایي سربازان برخه واخلې . ددې نظر پخلی ښاغلي جېمز ډابنز کوي ،لیکي : د شمالي ټلواله یوازنۍ افغاني ډله وه چي عسکر یې درلودل؛ د کابل امنیت یې ټینګولای سوای؛ او امریکایي مخصوصو عسکرو او د سي ای ې سره یې د طالبانو په راپرځولې کي مرسته کولای سوای. مگر د ښاغلي ډابنزدغه دلیل او استدلال کمزوری او کوږ دی. موږ ټولو ته څرگنده ده چي د شمال ایتلاف د طالبانو د رانسکورولو جوگه نه وه .ددي لپاره چي دشمالي ټلوالي نړېوال اعتبارغښتلی سي دروسي مشر ولادمیر پوتین هم ددي حقیقت نه پرده پورته کړه او

دژورنالستنو سره يې په خبروکې دابرښنده کړه چې روسې دتيرو پنځوکلو په دوران کې دطالبانو پرضد دشمالي ټلوالي اود هغوي قوماندان احمدشاه مسعود سره دوسلو او پيسو زياتې مرستې کړې او دادی اوس دغه مرستې نورې هم زياتوي .فکرکوم د۲۰۰۵زکال دسپتمبر په مياشتې خوټنه موادداونورتوکې دمسکو دوالې جنرال گروموف لخوا دپنجشيرولسوالی (ولايت) ته راولېږل سوه ،هم دهغه پخوانيو دوستيو ديوځل بياډاگيزه کېدواو پخلې په خاطر به وه .کنه تر پنجشير نورې زياتې مستحقي سيمې وې،او بل داچې ولې ئې ديوې خاصې ډلې اومنطقي په نامه دامرتسې راولېږلې؟ هلته خداې مکړه کومه طبعې ټکه نه وه لوېدلې .تر ديپلوماتيکو تلاښونواوپه نړيواه کچه ملاتړتر خپلولو وروسته امريکاپر افغانستان باندې دوسله وال يرغل لارې دخلاصېدوپه موخه دملگروملتو دسازمان دامنيت شوراهوکړه ترلاسه کړه .

## دوسله والوحملواوملي غميزې پيل :

د ۱۹۹۹ کال په بهيرکې دامريکا متحدو ايالتونو پر افغانستان خپل فشار په پرله پسې توگه زيات کړ. د همدې کال د فبرورۍ پر دريمه د امريکا دبهرنيو چارو دوزير مرستيال کارل ايندرفورت اوپه همدې وزارت کې له ترهگرۍ سره د مبارزې د څانگې مشر مايکل شيهان د پاکستان په پلازمېنه اسلام اباد کې د طالبانو د بهرنيو چارو وزارت له مرستيال عبدالجليل سره وکتل. هغوی نوموړي ته خبرداری ورکړ چې د امريکا متحد ايالتونه به د بن لادن د هر ډول راتلونکو ترهگرو بريدونو له امله د افغان حکومت حساب کتاب ته راکاږي .

پاتريک مارتين يو انگليسي ژبی ليکوال په خپله يوه ليکنه کښې د((دافغانستان جگړه دسپتمبر له يوولسمې څخه پخوا لا پلان شوې وه)) چې له الماني ژبې زموږ تکړه ژورنالست اوژباړونکی پښتو ته ژباړلې ده ليکي : د باخبره سرچينو له رپوټونو څخه چې د بريتانيا ، فرانسې اوهند په رسنيو کې خپاره شوي، جوتيږي چې د امر يکا دحکومتي استازيو افغانستان ته د(۲۰۰۱) کال په اوړي کې لا دجگړې گواښ کړی و.

د بي بي سي خبريال جورج ارنی د سپتمبر پر ۱۸ رپوټ ورکړ چې د امريکا حکومتي چارواکو د پاکستان د بهرنيو چارو پخوانی وزير نياز نايک د جولای په منځ کې د طالبانو پر حکومت د يوه پوځي گوزار په اړه له پلانونو څخه خبر کړی و. نياز نايک بي بي سي ته د اهم وويل چې، د امريکا د استازو دهمدې کتنې په ترځ کې څرگنده کړه چې،که بن لادن په لنډ وخت کې ور ونه سپارل شي، نو امريکا به له پوځي وسيلو څخه کاروا خلي چې هم بن لادن او هم د طالبانو مشر ملا عمر ووژني اويا ونيسي .

د واشنگټن پوست(د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د ۳ نيټې) له يوه رپوټ څخه په ډاگه څرگنديږي چې دکلينټن حکومت د پاکستان د هغه مهال له لومړي وزيرنواز شريف سره پر ۱۹۹۹ کال دګډو پټوعملياتو په اړه هوکړه کړې وه چې اسامه بن لادن به وژني . خو د ۱۹۹۹ د اکتوبر پر ۱۲ نواز شريف حکومت د جنرال پرويز مشرف له خوا ديوې پوځي کودتا په ترځ کې راوپرځول شواودپاکستان نوي حکومت دغوپلان شويو پټو عمليات ته شاکړه . بيا په ۲۰۰۰ کال کې د امريکا متحدو ايالتونو د طالبانو د راپرځولو په موخه خپلو هڅو او هلو ځلو ته دوام ورکړ. هغه وخت هم دطالبانو دنسکوربېدولپاره دپاکستان اوسيمې داستخباراتي شبکواوجهادي تنظيمو څخه استفاده کېدله . د طالبانو په وړاندې په عملياتو کې د اوزبکستان، تاجيکستان او ان پخپله روسيې له پوځي ټولگيو څخه گټه اخيستنه په پام کې نيول شوې وه. د((اينډيارينکټز)) له رپوټ سره سم د روسيې ولسمشر ولادېمير پوتين د جون دمياشتې په پيل کې د همگټيو هيوادونو په غونډه کې،چې د پخواني شوروي اتحاد زيات شمير جمهوريتونه په کې غړيتوب لري، څرگنده کړه چې د طالبانو پرخلاف يو پوځي گوزار په مخکې دئ .

دبوش د حکومت اوطالبانو ترمنځ خبري اترې د ۲۰۰۱ کال په فبرورۍ کې دجورج ډبليوبوش ددندې له پيل کولو څخه ډيرلږ وروسته پيل شوې . د همدې کال په مارچ کې د طالبانو يوه استازې واشنگټن ته سفر وکړ چې له ځان سره يې د يوې گرانبيې افغاني غالی په گډون،يو شميرنورسوغاتونه هم امريکا دنوي مشرله پاره وړي وه. خو خبري اترې هومره تودې او له صميميته ډکې نه وې. د امريکا حکومتي استازو دخبرو پر مهال طالبانو ته ويلي وو چې : يا به

تاسو زموږ وړاندې‌ږ منئ، چې په هغه حال کې به درته د سرو زرو غالۍ وغوړوو او يا به مو د بمونو تر غالۍ لاندې پټ کړو.

د دغو رپوټونوله مخې په دې لړ کې ان په جولای کې اعلام شوې وه، چې د اړتيا په حال کې به په افغانستان کې پوځي عملیات دواورې له وربدو ترمخه، چې ترټولوناوخته نېټه به يې د اکتوبرمنځ وي،تر سره شي.د بوش حکومت پر دغه بې وزله هېواد په رښتيا هم ۲۰۰۱ کال د اکتوبر پر اومه بمباري پيل کړه.

امريکا دتروريزم سره دمبارزې اوالقاعدې دسازمان دجرړوايستلوپه نوم داروپايي هيوادو ،روسې،دافغا نستان همسايه هيوادو اوايران زمنی ملاتړ ترلاسه کړئ و ،او داکتوبر په مياشت کي يې ديويشتم قرن دموډرنو الوتکو اوبماوريوپه زوردطالبانواودالقاعدې دسازمان دپټېدوپرځايوشپه اوورځ مرگوني گذارونه شروع سوه،امريکا په دغو بم اوريو کي وچ او لانده يو ځاي وسوځول .او دپښتنو داوسېدو پر سيمي پدې نامه چي طالبان پښتانه دي اودطالبانوسره به مرسته وکړي هم تر بمبارد لاندي ونيول ، په دښت کې چوپان او په کلي عادي خلک وويشتل سوه . کلي ،کورونه ، ژرندي ،کارېزونه اودکوچيانو خېمې ،پر لارو دسوارليوگاډې دبم اورونکو الوتکو او توغنديولخوا په نښه سول ،په زرگونو کورنۍ يې دکليو اوښارونو پرېښودلوته مجبورې کړې ،دولسونو دژوندااقتصادي اوټولنيزه اډانه يې خرابه او تباه کړه . په کابل ښارکښي يې هم دښار سهيلې او شمالي برخې ،دتلوېزيون غر (انتن)دبالاحصار او مرنجان تپه او يو مسجد په بمانو او توغنديو کلک وويشتل ، په سلهاو انسانانو ژول سوه .که څه هم دامريکا داشان کړنه په داخل او بهرکي د افغانانودا عترضونواا حتجا جونو سره مخ شول ،دامريکا وحشيانه خپل سري بمبارۍ يې وغندلې مگر دامريکا اود لوېدېځو هيوادومشرانو غوږ هم ورباندي ونه گراوه . دبېلگې په توگه دسويډن دمالمو په ښارکي دسويډن –افغانستان دکمېټې اوافغا نا نو په گډون مظاهري وشوې ،په همدغومظاهروکي هغو افغان ماشومانوسره دمرستي په خاطر چي دامريکا دوژنکواوړندوگذارونوپه پايله کښي يې دژوندهر څه دلاسه ورکړي وه مالي مرستي راټولي سوې ، دمالمو دښار په هغه تعليمي موسسه کي چي ما سويدني ژبه لوستل دسويدني استادانو په همکارۍ مې تر ((۸۰۰۰)) زيات سويډني کرونه مرسته ټوله کړه . دامريکا اوهغوي دمتحدينو له پوځې کړنواوعملياتو څخه داسې څرگندېده چي شاته کوم پښتون دښمنه قوت دوي دغوتيروتنوته او وحشيانه هوايي اوځمکنيو پوځی عملياتو ته هڅول، امريکايانو ته يې غلط راپورونه ورکول او هغوي يې دپښتنو داوسېدو پر ځايوبم اوريو ته هڅول . ددغه کار نه ئي موخه داوه تر څو له يوې خوا پښتانه وځپل سې او له بلې خوا دپښتنو په زړونوکي دامريکا په مقابل کي دکرکي اونفرت احساس راپيدا سې، ترڅوله يوي خوا امريکا اواروپايي هيوادونه دتل لپاره دپښتنو په مقابل کي حساس اوسي اودوي ته دشک په سترگه وگوري اودبلې خوا پښتانه هم له نړيوالي ټولنې څخه خوابدې شي اوپر خلاف ئي ټوپک ته لاس کړي .

دطالبانودحکومت درانسکوربدواودبن لادن دله منځه وړو په پلمه په افغانستان کي تر ټولو ددرنې اوورانوو نکی وسلې استعمال شوې .امريکاد B ۵۲ اونوروپوځی الوتکو پوسېله ببله اټوم بم نه نورټول بمونه اورولي دي . پدي هکله دلوموند انترنتی پاڼي د۲۰۰۲ کال دمارچ په پاڼه کي د ((Amrican Big Dirthy Secret)) تر سرليک لاندي،دهيرالډتريبون ورځپاڼې د۲۰۰۱ م کال ددسمبر پر پنځمه خپره شوې گڼه ،يو اس ټو ډې د ۲۰۰۱ کال ددسمبر پر ۲۴ مه او په ژنيوکي ديومشهور ژورناليست په ۱۳۰ ورقيز راپورکي هم دامسله نشر شول چي امريکا په افغانستان کي دطالبانو پر خلاف داسي وسلې استعمال کړې کوم چي استعمال ئې کدغن شوی و.

دايران تلوېزيون دامريکادهوايي حملو خبر پدې ډول خپورکړ: حمله موشکی امريکا در افغانستان : اين حملات با ۲۵ راکت کروز در تأسيسات طالبان ساعت 9 شب بوقت افغانستان روز يکشنبه مورخ ۷ ۱اکتوبر ۲۰۰۱ ميلادی برابر به ۱۵ ميزان ۱۳۸۰ خورشيدی در کابل، قندهار، جلال آباد آغاز شد ، و درساير‌شب ها متواتر ولايات ، قندوز ، فراه ، هرات ، سمنگان، نيمروز، شبرغان ، مزارشريف ، جوزجان براي ساعت ها ادامه داشت و همچنان بم افگن هاي امريکائي در کوه توره بوره در نزديك شهر جلال آباد تا روز پنجشنبه۶ دسمبر۲۰۰۱ ميلادی مطابق پنجشنبه ۱۵ قوس

۱۳۸۰خورشیدی بدون وقفه ادامه داشت که ، به اثر بم افگن ها درافغانستان بسیاری از مردم درهواي سرد آواره وتعدادی زیادی کشته ومعیوب بجا گذاشته است .
داعملیات دومره درانه وه چي دلوېدېځومطبوعاتواوان دامریکا د CNN ټلوېزیون یو مفسر(( فیشر)) وویل :دامریکا بمبارۍ دویتنام له جګړي نه وروروسته ډیري درنې اوزیاتي سختي وې چي شپه او ورځ ېږي په پرله پسي توګه دوام درلود.
شمالي ټلوالي اودجنرال دوستم ډلې په ګډه دهیوادپه شمالي سیموکښي دطالبانوپه نامه دهواله لاري دامریکایانوپواسته اودځمکي له لاري دامریکادبي ۵۲ الوتکوتر سیوري لاندي دخپلوپوځونوپوسیله بې شمېره پښتانه له ژوند نه محروم کړه ،په زګونوژوندي کسان ئي په کانتینرو،تیلرموټرانو اوځولورودیوالوکي په وینو ولړل چي شمیر ئي تر پیځوزرو اوړي . دشمالي ټلوالي دمشرتابه د((ټانکیو امریکا)) چیغي به په تاریخ کي یوه غیرتی افغان هم ي دخیل مور شیدې رودلي وي هیري نشي .
دغوډلو پدې ډول له پښتنوسره خپله دښمني ځرګنده اوزموږ دهیواد دښمنان ئي خوشحاله کړه . دوې غوښتل له یوې خوادخپلوبادارانو هدایت چي شمال له پښتنوخلاص ښه دي عملي کړي اوپښتانه له شمال نه ورک کړي ، اودبلې خوا هلته پرتوقومونوته ځرګنده کړي چي ګویا پښتانه ددوي دښمنان دي ځکه ئي ووژل اویائي فرارته مجبورکړه . خو له نیکه مرغه هلته هوښیارو تاجکو،ازبکواوترکمنو،هزاره ووددوي پر دغوانسان دښمنو تبلیغاتوغوږ هم ونه ګراوه اوددوي په مقابل کښي دهمدغوشریفو قومونونفرت نورهم زیات شو.یوټکی چي دزیاتي پاملرنې اوافتخار وړدی هغه ،داچي زموږ ولس په هرقوم ،ژبه اومذهب پوري چي اړه لري په هیڅ ډول دپردیودلاسپوځواوافغانستان دښمنودله بي اتفاقیواو اختلاف رازېږ ونکودروغجنو تبلیغاتوقرباني شوې ندي اونه ئي ددوي پر اوتو بوتو غوږ نیولی .متاسفانه دغوبي اتفاقیو،دیوه اوبل قوم ،یوې اوبلي ژبې دتوهین لپاره ځودګوتوپه شماربېګانه پروره لاس اوپښي وهي .
دغه تخارته راستنې شوي کورنۍ چي اوس ئي څوک خپل ټاټوبي ته نه پرېږدي ،هغه وخت فرارسوې کله چي دشمال ټلوالي اوجنبش ډلود((ټانکیو امریکا))نارې وهلې . داچي څوزره کورنۍ دکندهار اوهلمند یاکابل پر شاوخوادځوکلو راپدي خوا بي سرنوشته ژوندکوي شمیر ئي تراوسه دولتي ادارو له شرمه ندی اعلان کړی ،زه هغه کورنۍ نه شمېرم کوم چي دامریکاد هوایی اوشمالي ټلوالي دځمکني حملوپه پایلو چي سمدلاسه ئي کورونه د پاکستان اوایران په لورپرېښودل .
په هغه وخت کي چي پرکابل اوکندهاردبمانو اوتوغندیو باران ودروسي دولت اعلان وکړ چي شمالي ټلوالي لپاره یې پنجشیر ته ټانکونه ،توغندۍ اوکلاشینکوفونه رسولي دي ،روسې غوښتل دموقع څخه په ګټه پورته کولوسره دنظار شوراترغاښو په هر ډول وسلوسمبال کړي ترڅوداړتیا په وخت کي وکولاي سي له ځان او روسې دګټونه دفاع وکړي .همدغه مهال ازبکستان هم دجنرال دوستم څخه خپل ملاتړ اعلان . البته دا باید هېره نشي چي ترکیې تل خپلي ګټي دشوراي نظار په څنګ کي ددوستم په وجودکي لټولې دي اودهغه څخه یې ننګه کړې ده . همدا دلیل ووکله چي به دوستم دطالبانو له خواځغلول کېده سمدستي به ازبکستان اوله هغه ځایه ترکیې ته تلۍ . جنرال دوستم پداسي حال کي چي هیڅ ډول رسمی دنده ئې نه درلوده دترکیې په تلویزیون کي ډیر ځله په پوځي لباس کي راښکاره سوی دی،په همدغه وخت کي په ترکیه کښي کله کله دده څخه پداسي حال کي چي یومعمولي سړی و ،دیوه رسمي شخص په بڼه استقبال سوئ دی. د ۲۰۰۱زکال داکتوبر په ((۲۰)) ورځ یو روسي پوځي جګپوړي جنرال ((پاپوف)) وویل :موږ دشمالي ټلوالي سره په کافي اندازه کومکونه کړي ، دافغانستان شمال زموږ دخپلي سیاسي اغېزې اونفوذ سیمه بولو،او دافغا نستان دراتلونکي دولت لپاره ښاغلی رباني یو مناسب شخص ګڼو .
روسانو پدغوځرګندونوسره داټولوته وفهمول چي روسیه په هیڅ ډول حاضره نده په افغانستان کې پاکستان پلوه اویاداسي حکومت چي ددوي خوښ نه وي ومنې .
دکابل دښاریانو،په داخل اوبهرکښي ټولوافغانانواوملګرو ملتو دسازمان سره داتشویش پیدا سو چي دطالبانو تروتلو

وروسته به څوک په دې ښارکي واکمن کيږي ،ځکه درباني دحکومت دپخوانيوناوړه اعمالو په اساس نه دکابل خلکواونه هم ملګروملتوسازمان غوښته چي شمالي ټلواله دې په کابل کي حاکمه سې . کله چي دطالبانوماته يقيني سوه ملګروملتوسازمان او لويديځوهيوادوتوصيه کول چي هيڅ‌چاته بايد حق ورنکړه سې کابل ښار ته پر خپل سر ننوزي . مګر دبوش په کابينه کي دکابل دنيولو په باب بحثونه روان وه، د هغه وخت خارجه وزيرکولن پاول دکابل دبې وسلې کولو پلوي کوله ،هغه غوښتل چي دکابل ښاردملګروملتونو او يا بلي خارجي قوې تر نظارت اوساتني لاندي راسي، او پرې نه ښودل سي چي دشمال ايتلاف يوځل بيا پرکابل باندي مسلط سي . له دغه نظر سره دملګرو ملتو استازي هم موافق وه ځکه ئي شمالي ټلوالي ته فهمولې وه چي کابل ته داخل نشي .مګر له بدمرغه د ښاغلي پاول دامقعول نظر دبوش په کابينه کي رمزفيلډ لخواردېده .ويل کيږي چي دامريکا د دفاع وزارت نه غوښتل چي افغانستان ته ډېر عسکر واستوی ځکه دبوش اداري د عراق د اشغال ولو توطيي ته ملاتړله .

دافغانانوهيله داوه چي کابل بايد په هيڅ ډول د مسعود ډلې ته نه وای تسليم سوی. د مسعود توپونو ، ټانکونو، او لوټمارانوکابل ښاريان تر پزې راوستلي وه ، د افغانستان ټولو خلک دشمالي ټلوالي اوهغوي دپلويانو ډلو دجناياتو اولوټماريوشاهد وه .

په امريکا کي هم جمهوريت غوښتونکواو دموکراتانوسناتورانودبوش له اداري نه غوښتنه کول چي شمالي ټلوالي ته اجازه ورنکړي تر څو کابل ته ننوزي ،دبرطانيې صدراعظم توني بلير هم علاقه نه لرل چي دا بدنامه ډله يو ځل بيا دکابل دښا دفاتح په توګه دغه ښار ته داخله سې .

دملګروملتو استازی اخضر ابراهيمي دشمالي ټلوالي له مشرانو سره خبري وکړې او هغوي ته يې دنړيوالو دا تشويش چي نه بايد کابل ښارته داخل سي څرګند کړ .

امريکايان اونړيوال پدې ښه پوهېدل چي د شمالي ټلوالي په وړاندي خلک بد حساسيت لري اوکابل ښاريانو ته دوي دمنلو و نه دي ،ځکه ئي دوي ته دا حق او اجازه نه وه ورکړې چي دوي دکابل ښارته داخل شی . مګر دخپلو بهرنيو معلمانو اوبادارانوپه هدايت دپخوا جوړسوی پټ پلان دپلې کېدو په موخه پسله هغه چي دوي دکابل ښار څخه دطالبانودپر شاتګ خبر تر لاسه په ډيره عجله کابل ته داخل شول ، مهمې سيمې اوکابل ښار ددوي تر کنترول لاندي راغلي .

خوجېمز ډابنز بياوايي: د شمالي ټلواله يوازنۍ افغاني ډله وه چي عسکر يې درلودل؛ د کابل امنيت يې ټينګولای سوای، او امريکايي مخصوصو عسکرو او د سي ای ې سره يې د طالبانو په راپرځولی کي مرسته کولای سوای. مګر د ښاغلی ډابنزدغه دليل او استدلال کمزوری دی.،ځکه موږ ټولوافغانانو ته داڅرګنده ده چي د شمال ايتلاف د طالبانو د رانسکورولو جوګه نه وه .

پدغه وخت کي چي لا دامريکا هوايي بمباری رواني وې دنوامبر په ۲۱ مه په تاجکستان کي ډاکتر عبدالله داستاد رباني سره دراتلونکي حکومت په هکله خبري وکړې . هغه دامريکا دهوايي حملو او شمالي ټلوالي ته دلاري دخلاصېدو په هکله هغه ته معلومات ورکړ. په همدغه وخت کي روسي چاروا کويوځل بيا په ګوته کړه چي دطالبانو ترسقوط وروسته بايد استاد رباني دجمهوري رياست واګي پلاس کي واخلې .دروسې ددغه وړانديز نه تاجکستان،ازبکستان او ايران ملاتړ وکړ،هندوستان چوپتياغوره وبېل . مګر پاکستان دروسې له دغه نظر سره خپل مخالفت وښود.

دپاکستان لپاره دا دقبول وړ نه وه، يوځل بيا هغه کسانوته دولتي حاکميت ورسپېري کوم چي ددوي په زور يې په افغانستان کي واک تر لاسه کړی و ،خو دقدرت دتر لاسه کولوسره سم ئې پاکستان ته شاوګرځول اوهغوي ئي هيرڅه چي دروسيې ،هندوستان اوايران دخوښې لپاره ئې روابط له پاکستان سره ډيره سړه ښه غوره کړه . اومقابل لور (روسي ،ايران او هندوستان ) سره دوستانه اړيکي ډيرې ټينګې اوپراخي شوې .په امريکا کي هم جمهوريت غوښتونکواو دموکراتانو سناتورانودبوش له اداري نه غوښتنه کول چي شمالي ټلوالي ته اجازه ورنکړي تر څو کابل ته

ننوزي ،دبرطانيې صدراعظم توني بلير هم علاقه نه لرل چي دا بدنامه ډله يو ځل بيا دکابل دښا دفاتح په توګه دغه ښارته داخله سې .
افغان ولس بهرنيووحشي بمباريو له امله هک پک پاته واو دخپلو نازولو په وير سرګردانه او فرېشانه وه ، دا دقدرت ليونيانو وخت غنيمت وباله پرخپل سر دنومبر په ۱۳ مه ورځ دماذديګر پر شپږ بجو په هغه روسي پوځي لباس کې چې څو ورځي پخوا يې روسي چاروا کو شمالي ټلوالی ته دګنډلو اوددوي په ا ختيار کي دورکولو خبر خپورکړی و ((۱۲۰۰۰)) وسله وال کسان دکابل په وينولړلي او زخمي زخمي ښار ورننوتل او دکابل زوربډلو ښاريانو يو ځل بيا هغه مخان وليدل کوم چي له لېدو نه يي نفرت درلود .
ددوي په وينالومړی يونس قانوني اوبيابرهان الدين رباني کابل ته راغلی،مګر مارشال فهيم بيادانه منې وايي چي لومړی زه کابل ته داخل شوم په ټول کابل کي مي امنيت تامين کړ،وروسته مي دشوراي نظارمشرتابه او استادرباني ته احوال ورکړ چي کابل ته راشي . خودا دومره مهمه مسله څکه نده چي دCIA دټاکل شوی کارمند لخوادمعينوپيسودترلاسه کېدو نه وروسته ټوله شمالي ټلواله دامريکا دپوځ په چوپړ کښې وه . ياپه بله اصطلاح شمالي ټلواله اوجنرال دوستم ډله پر افغانستان باندي دامريکاپوځی حملوپه وخت کي دځمکني پوځ دنده پر غاړه درلوده . مهمه خبره داد په هغه لهظه چي دا ټلواله دکابل په ښار ورننوتل سمدستي فهيم ځان دددفاع ،يونس قانوني دکورنيو چارواو عبدالله دبهرنيوچارو وزيران اعلان کړل ،دمالي وزارت څکه چا وانه خيست ،هلته هر څه په ګډه چورسوي وه . ددغومقامودتر لاسه کولو پرسر يې دبن په کنفرانس کي هم دومره چنې ووهل شوي ترڅو همدا مقامونه همدغو ښاغلو ته ورسېدل .
په هر حال شمالي ټلوالي دخپل پروګرام دپلي کېدوپه موخه پر خپل سر دراډيو له لاري اعلان وکړ چي استاد رباني دافغانستان دجمهورريیس په توګه دوباره کابل ته راغلي . برهان الدين رباني يو ځل بيا دکابل په ښارکي دمطبوعاتو اوراډيوګانو په وسيله خپل ږغ دارګ له ماڼۍ نه پورته کړ . اواعلان ئي وکړ چي ددوي په وينادکابل ښاردطالبانوله شره خلاص شو. دوي په خپلو تبليغاتوکي کابل ته داخلېدل خپله برياوبلل اوداسي ئي څرګنده کړه چي ګوياددوي دمبارزو اوفداکاريو پايله وه چي دطالبانو حاکميت نسکور شو. داهغه وخت و چي کار تر کار تير سوئ و، امريکايان اودهغوي ملګري ئي غافله ګيرکړه . خو خلکوته هرڅه معلوم وه ،دائي هيرنه وه چي ددوي دلاسه افغان ولس طالبان له دې سره چي يوه بنسټپاله دله وه ومنل ،دائي هم هيرنه وه چي کله طالبان سروبی ته راورسېدل شمالي ټلواله اوددوي نور پلويان داستاد سياف په شمول په منډه تر پنجشير اويوه اونۍ ور وروسته ترخواجه غار پوري ورسېدل.ايران پلوه دايران په لور اوترکيه پلوه دترکې ،چا دتاجکستان اوچا هم دازبکستان او ترکمنستان په لورمنډې کړې . دادا ستان ډير اوږد دی اودبلی خواپه افغاني اونړيوالومطبو عاتوکي ئي پوره انعکاس موندلی څکه ئي دتکرارنه ډډه کوم .
فقط څلور ورځي وروسته ترهغه چي دا ښاغلي په کابل ورننوتل دروسې دبهرنيو چارو وزير سرګې ايوانف اعلان وکړ ،چي يو نفر پوځي اوبل دسياسي چاروجګپوړي کار پوه کابل ته ولېږل سوه تر څو په کابل کي دهغه حکومت دچاروا کو سره چي اوس پر وضعه مسلط دي له نږدې دوستانه ليدنه اوکتنه وکړې.په خبرکي راغل وه چي دواړي خواوي به دخپل مينځي مناسباتو دټينګولو په هکله بحث کوي . روسي پدغه عاجل سياسي حرکت سره امريکا اونړيوال ديوه ترسره سوې عمل سره مخامخ کړه او داسي يې وښودل چې دحکومت درياست مسله ختمه ده،هغه دی رباني پردولت مسلط دی او اداره يې جوړه کړې اوفعاله ده .
دشمالي ټلوالي کابل ته داخلېدل،او پر خپل سر حکومت جوړول داروپا اوامريکايي چاروا کو دخوابدۍ سبب وګرځېده،څکه دکابل ښارته دشمالي ټلوالي داخلېدل بايدديوي شوراترجوړېدو وروسته چي امريکا اوملګر و ملتوسازمان په نظر کي نيولې وه تر سره سوي واي .
دکابل خلکو حتاددوي له اوازنه نفرت درلوداوددوي له ليدونه ئې کرکه کوله ،يوازنۍ اوازچي دوي ته ئي باور ورېا خښه هغه دملګرو ملتودسازمان ځانګړي استازي اخضرابراهيمي خبري وي چي دنوي حاکميت اود راتلونکو

پلانو او د افغا نستان د بیا جوړوني ، او ملي تفاهم پر بنیاد د نوی حکومت د جوړېدو په اړه ئې د راډیوګانو له لاري خبري کولې .د غو خبرو د افغانستان پرېشانه خلکو ته یو څه امیدواري پیدا کوله . امریکا و توانېدل په ټوله افغانستان کي د ۴۵ ورځو په تېرېدو سره د پوځی درنو او وژنکو حملو او عملیاتو په نتیجه کي د طالبانو د حاکمیت جرړي و باسي . هغه د متوکل خبره د طالبانو رژیم ړنګ شو ،خو طالبان ورک نشول .

## دا نا امني د چا ډالی ده

دریم جز :

*سنګ اول چون نهد معمار کج تا ثر یا میرود دیوار کج*

## دبن کنفرانس او پایلي :

د امریکا پخوانی دیپلومات او د افغانستان لپاره د جمهور رییس جورج ډبلیو بوش خاص استازي ،او سفیر جېمز ډابنز په ۲۰۰۱ زکال د امریکا د جمهور رییس جورج ډبلیو بوش لخوا په افغانستان کي د طالبانو پرځای د یو بل حکومت د جوړولو لپاره وټاکل شو .

د ملګرو ملتو د سرمنشي ځانګړي استازي اخضر ابراهیمي او د هغه مرستیال فرانسیسو ندرل لخوا په دغه وخت چي د امریکا پوځی حملي او عملیات په خرپ روان وه په افغا نستان کي د نوي حکومت د رامنځته کولو په هکله پر پلان او طرحي کار شروع کړي و . د بیلو بېلو ډلو ټپلو سیاسي او جهادي ګوندو او تنظیمونو د هغو کسانو سره چي دوي ورباندي باور درلود تماسونه ونیول سوه ،ددې تماسونو په جمله کې د دقبرس ، روم پېښور او شمالي ټلواله چي ډېر پخوائي لا د امریکا او نړیوالي ټولني پاملرنه ځانته اولې وه ،او د بلي خوائي پرخپل سر د طالبانو لخوا هغه د دوي ړنګ شوی حکومت دوباره اعلان کړ،د بن کنفرانس اساسي لوبغاړي شول .

دا هغه تیروتنه وه چي امریکایان به ئې تر ډېره جبران نشي کړاي .

ملګرو ملتو ،امریکا ،برتانیې ،جرمني ،فرانسي دولتي چارواکو د افغانستان لپاره د راتلونکي دولتي سیستم د جوړ بدو ،اساسي قانون ،مؤقتي او عبوري اداري د ډ ندو او نورو اړینو مسایلو د څېړلو په منظور د المان په وړاندیز د هغه هیواد د بن په ښارکي د دوي د خوښي افغانانو په ګډون د یوي غونډې چي په تاریخ کي د بن د کنفرانس په نوم یادېږي د جوړیدو لپاره ګامونه ګړندي کړه .

د ملګرو ملتو د سازمان د سرمنشي استازی اخضر ابراهیمي په ایتالیا کي د محمد ظاهر شاه ،د هغه د کورنۍ د غړو او هغه له سلاکارانو سره وکتل په خبرو کي موافقه وسوه چي د بن په کنفرانس کي به د پاچا استازي برخه اخلي . په دغه وخت کي چي د ظاهر شاه سره د نړیوالو په ګډون د افغانانو لیدني کتني زیاتي شوې ،موږ په اروپا کي د یو شمیر فرهنګي ټولو استازي د تلیفون په مټ سره سلا شوچي یو هیئت دي د افغانستان د مسلې د عادلانه حل په هکله د پاچا سره د کتلو لپاره روم ته ولاړ سي . د فرهنګي ټولنو پلاوی روم ته ولاړ له پاچا او د هغه د کورنۍ د څو غړو سره یې د افغانستان د راتلونکي سرنویشت د ټاکلو ،افغان ولس د غوښتنو زموږ د وړاندېزونو او یو شمیر نورو د علاقي وړ مسلو په هکله خبري وکړې ، د لومړي ځل لپاره زموږ لخوا په سمبولیک بڼه همدغه پلاوي یو ټوک پښتو کتاب د پخواني پاچا کورنۍ ته ډالۍ کړ .

په افغانستان او له هیواد نه بهر ټولو افغانانو ددي لپاره تلاښ کاوه چي داخل د بهرنیو هیوادو په مرسته او افغان روڼ اندو په مشوره او ګډون داسي یوه اداره جوړه سي تر څو افغانو لس وکولاي سي خپل سرنویشت په خپله خوښه او دولس له ارادې سره سم وټاکي . ددې کار لپاره زیاتوروڼ اندو افغانانو منډې تر ړي وکړې ،مګر له بده مرغه د تل پشان زموږ د هیواد د برخلیک د ټاکلو په هکله د هغو څخه چي د هیواد دودانېدو او ښېرازۍ سره یې علاقه لرل چا پوښتنه ونکړه، د افغانستان راتلونکۍ سیاسي سرنوشت یو ځل بیا د ابرقدرتو لخوا د بن په کنفرانس کي چي د ۲۰۰۱ ز کا ل د

نومبر پر ۲۷ پیل او دد سمبر تر پنځمې ئي دوام پیدا کړ دالمان دبن د ښارد پترسبورګ دتاریخي هوټل دکنفرانسونو په تالار کې ترسخت امنیتي تدابیرو لاندي دګوتو په شمارځوهغو کسانو په ګډون چي دوي غوښتل دتړلو دروازوتر شاته په جوړسوي کنفرانس کې و ټاکل سو. دکنفرانس کاراو په هغه کي دګډون کونکواوپرېکړومشروعیت دزیات شمیر افغان اونړیوالو نظر خاندانو اوسیاسي څېړونکو لخوا تر سوال لاندې ونیول سواو زیاتي نیوکي پري وشوې چي دا سلسله تر اوسه روانه اوترډیره وخته به دوام ولري .
دبن په کنفرانس کي دګډون لپاره دغو ډلو ته دامریکا له خوا بلنه ورکړه شوې وه :
الف :دافغانستان دمتحدي اسلامي جبهې یاشمالي ټلوالي ((۱۱)) استازي :
۱/ یونس قانونی
۲/ حاجی عبدالقدیر
۳/ عباس کریمی
۴/ عارف نورزی
۵/ حسین انوری
۶/ مصطفی کاظمی
۷/محمد ناطقی
۸/ محمد قسیم فهیم
۹/اغلې آمنه افضلی
۱۰/ عبدالله
۱۱/میرویس وه
ب : دروم جریان په استازیتوب ۹ کسوته :
۱.عبدالستارسیرت
۲.عزیزالله واصفی
۳.هدایت امین ارسلا
۴.محمد اسحق نادری
۵.زلمی رسول
۶.محمد امین فرهنګ
۷.مصطفی طاهری
۸.اغلې سیماولی
۹.اغلې رنا منصوری
یوه بله منبع لیکی چي ددې حرکت ۱۹ نفره راغلي وه چي ۱۱ نفروئي داستازو په توګه ګډون وکړ.
ج : دقبرس جریان لخوا ـ ۳ کسوته :
۱.همایون جریر دګلبدین حکمتیار زوم
۲.جلیل شمس
۳.عزیزالله لودین
دغه ډله له قبرس نه راغلې وه ځکه دقبرس دحرکت په نوم ونومول شوه.کنفرانس ته لس نفره راغلي وه دوي ته هم په کنفرانس کي دګډون لپاره درونفروته حق ورکړه شو.
د:دپېښورجریان لخوا ـ۳ کسه :
۱. انورالحق احدی

۲. سید حامد گیلاني
۳. حفیظ الله آصف محسني دشیخ محمد ف محسني زوي .
دغه حرکت هم ۷ نفره کنفرانس ته رالیږلي وه ،مګر درو نفروئي درسمي استازوپه توګه په کنفرانس کي برخه درلوده . دبن دکنفرانس ټول (( ۲۶ ))نفره کېدل داصلي استازوپه توګه او ((۴۴ )) نفره دمشاورینو اوڅارونکوپه توګه ګډون درلود .دغه کنفرانس په موقتي اداره کي دچوکي اومقامونوپر سر دجنجال له امله دد سمبرتر ۵ نېټې چي دقوس ۱۴ کيږي دوام پیداکړ .دبن په کنفرانس یوشمیرتنظیمو لکه دګلبدین حکمتیار ،مولوي یونس خالص، مولوي محمدنبي محمدي ،دطالبانو منځلارو ،سیاسي ګوندواوخپلواکو شخصیتونوته بلنه ورنکړه شوه اوهغوي له نظر وغورځېدل ،چي دادی اوس د ۷ کلونوپه تېرېدوسره همدا دبن دکنفرانس رابلونکي دپورته یادشوو ډلوسره چي عملاً ددولت اوبهرنیانو پرخلاف جنګېږي دروغي جوړي اوخپل مینځی تفاهم خبرودپیل لپاره تلاښونه کوي . د۲۰۰۸روان کال داکتوبرپر۱۳مه دبي بي سي راډیو سیاسي مبصر داوود ناجی په خپله هغه تبصیره کي چي دکرزی په کابینه کي تر تغیراتو وروسته ئي د(( تغیير کابینه برنامه ای برای حال یا آینده؟)) تر نامه لاندي کړئي دامني چي (( از همان آغاز نګرانی های وجود داشت که سیستم تایید شده در بن "کهنه" و غیر دموکراتیک است ونمی توان انتظار داشت که با چنین دیدی نسبت به قدرت ونظام سیاسی، نظام جدید ومدرن ساخت . اما این صدای ضعیف در میان هیاهوی باز سازی و نو سازی آن سالها چندان شنیده نشد .)) هغه وړاندي زاددي خبري پخلی هم کوی چي دبن په کنفرانس کي طالبانوته دګډون حق نه ورکول تیروتنه وه چي اوسئي غواړي جبران کړي ،هغه لیکي (( . . . نا دیده ګرفتن طالبان در اجلاس بن یک اشتباه بوده است و حالا برای جلب رضایت طالبان باید راه های تازه ای را جستجو کرد . )) خو زه یوځل بیاهم داټکي په تکرار علاوه کوم چي که څوک په افغانستان کي ددایمی سولي اوټیکاو سره علاقمند وي اوغواړي افغانستان دپرمختګ په لور لاره ووهي باید ټول سیاسي تنظیمونه اوګوندونه دطالبانوپه ګډون دیوه سیاسي داسي پلاټ پورم له مخې چي ټولو خواته دمنلي وړ اود افغا نستان روښانه داسي آینده پکښي تظمین اومنعکسه شوې وي چي دترقی ،دموکراسی ،ټولنیز عدالت اوبشری حقوقو تامین دبشردحقوقو دنړیوالي اعلامې اونورونړیوالو میثاقونوسره هیڅ ډول ټکر ونلري؛اونه باید هغوتلاښونه ته هوکړه وویل شي کوم چي پلي کول ئې افغانستان دنړیوال پرمختګ ،علم اوتخنیک له لاسته راوړنو څخه داستفادې په موخه په یوه اوبل نامه میروموی اوپه افغانستان کي دمنځنیو پیړیو دوداودستوردقانون په بڼه دخپلو بهرنیو بارانودګټودتامین په موخه چي افغانستان دیوه قرن لپاره نورهم شاته پاته غریب اوله هر ډول علمی اوتخنیکي پرمختګ نه بې برخي وي تر څولاس ئې ګاونډیانو اویادنړی نورو زبرځواکوته اوږدپاته وي . هر هغه سوله اوتفاهم چي یوازنی موخه ئي په دولتي سیستم کي دسیاسي سیالوډلو ګډون اویاپه دولت کي رهبري اوغوښن ځاي ترلاسه کول وي دافغان ولس په ګټه نده . په هغه صورت کي به که نن نه وي یاسبا داوطن بیادیوچادتیري سره مخامخ وی . دملي مفاهمې اوجوړجاړی په ټولواړخونو کي که دبن دکنفرانس اودواړولویو جرګوتاریخي تېروتنې که تکرارشي افغانستان به یوځل بیادبدبختۍ ،ملي اختلاف اوکورنۍ جګړې په ډګر بدل شي . پدې باید هرڅوک پوه وي چي دبن کبفرانس ته دغه رابلل شوی ډلې په هیڅ صورت دافغان ولس داستازیتوب جوګه نه وې، دغه شان سرنویشت جوړونکی نړیوال کنفرانس کي دغوډلواوکسانوته کاملا دبهرنیوهیوادونودڅارګرو اداروسره داړیکو پر بنیادبلنه ورکړه شوې وه .
دبن دکنفرانس په وروستی غونډه کي پسله زیاتوجنجالواوسیالیونه دملګروملتودسازمان دویاند ښاغلي فوزی لخوادافغانستان دراتلونکي جوړښت دموقتي اوعبوري اداري دندوپه اړه پرېکړه لیک ولوستل شو .
متاسفانه دبن کنفرانس پرېکړواودهغه پر بنیاد دراتلونکي دولتي ادادرې تشکیل دافغان ولس ټولي هیلې په ناهیلۍیو بدلې کړې،همدادپردیولخوااوددوي په خوښه دحکمتونودجوړېدو پایله همداده چي دمیلیارډو ډالرو په رالیږلوسره تر اوسه هم افغانانو دآرامۍ ګوله نه ده په خوله کړې . پر مځکه ئې طالبان اوددولت نور مخالفین نه پرېږدي اودهوا له لاري ئي هغه په بمونووژنې کوم چي دنوي ژوند اونوي کوراوښېرازی زېری ورکاوه .

دکنفرانس کارچې دافغانستان په چارو کې دملگرو ملتو د سازمان د عمومي منشي استازي اخضر ابراهیمي او ددغه سازمان دویاند ښاغلي فوزي په مشرۍ پر مخ بیول کېده دامریکا دولسمشر ځانگړی استازی ښاغلي خلیلزاد ، د امریکا پخوانی دپلومات جېمز ډابنز،دامریکا او روسیې دبهرنیو چارووزیرانوکولن پاول ،ایگور ایوانوف له ایران څخه ښاغلي کمال خرازی د پاکستان ښاغلي عبدالستار،د تاجکستان ښاغلي رشید عالموف ،دازبکستان عبدالعزیز کاملوف ، دترکمنستان ښاغلي رشیدمرادوف ا ود چین څخه تان جکسوان گډونکړي وچې د (۲+۶) هېوادو په نامه هم یادیږي .همدا ډول دالمان ،برتانیې ، ایتالیې،هالند اوجاپان استازو دکتونکو په توگه حاضر وه .

دافغاني لوري نه په غونډه کې دشمالي ټلوالي استازي زیات وه. دشمالي ټلوالي ډله داحمدشاه مسعود دعکس سره یوځای دکنفرانس غونډې ته داخل شول ،چې دمرحوم حاجي قدیر په وینا پر خلکو ئې ډېر بد تاثیر وکړ . علاوه پردې دکنفرانس دگډون کوونکو په وینا دکنفرانس په ټول جریان کښې شمالي ټلوالي دخپل پټ پلان اوخپلوموخوته درسېدولپاره په هره مسله کې چنه وهل کوم چې ددوي په گټه نه وه .

لوستونکي خبر دي چې دهمدغه ۲۰۰۱کال دسپتامبردمیاشتي په نهمه احمدشاه مسعوددخواجه بهاالدین په ولسوالۍ کې دڅورنالیستانو په نامه دناپېژندل سو کسانو لخوا چې داستادسیاف په سپارښتنه ورغلي وه له منځه ولاړ،ځیني خلک اوس کله فهیم اوکله کله داتر عبدالله دهغه په قتل تورن بولي ،داي چامرکړ زماد لیکنې موخه نده .

دکنفرانس گډونکي وايي چې دکنفرانس په جریان کښې شمالي ټلوالي غوښتل په موقته اداره کې غوښن ځای ولري . پردې مسله ډېر جنجالونه وشول ، له بلې خوااستادرباني ځان برحال جمهوررئیس باله اونه ئې غوښتل استعفاوکړي ،خو په کنفرانس کې دامریکااوملگروملتواستازوپردې مسله دشمالي ټلوالي سره ډېرې خبرې وکړې مگر کومې نتېجې ته ونه رسېدل ،تر څودښاغلی ډابنز په ویناپه کنفرانس کې دروسې له هغه نفوذنه چې پر شمالي ټلواله ئې لري استفاده وشول . هغه په خپل کتاب کې دبن په کنفرانس کې د روسانودنفوذ اواهمیت په باب لیکي : استادرباني نه غوښتل چې د بن د کنفرانس سره همکاري وکړي .همدارازهغه نه غوښتل چې له جمهوري ریاست څخه لاس واخلي.ددغه مشکل د رفع کولو لپاره ماد روسانو سره تماس وینو اوهغوی ته مي وویل چې رباني خو ستاسو سړی دی، تاسو پر هغه باندي څه فشار واچوئ چې کارونه ژرخلاص سي. هغه وايي: روسانو راته وویل چې فکر مه کوه . روسانو کابل ته تیلفون وکړ، او رباني ته یې ویلي وه چې که چیري همکاري ونه کړې، مرستي به پر بندي کړي .

ډابنز وايي : څو ساعته وروسته له کابل څخه خبر راغلی چې استادرباني هرڅه مني . همدا ډول په همدې کنفرانس کې دایران نفوذته ایشاره کوي چې ایران پر شعیه گانو سربېره پر شمالي ټلوالي هم څومره تاثیر درلود ،هغه لیکي : قانوني وویل چې یوخوبه درې واړه مهم وزارتونه زموږ وي اوبل داچې په کابینه کې باید دوې برخې هم شمال ایتلاف ته ورکړه سي ،ځکه موږ جنگ کړی دی اودا نورو ډلولکه دپاچا ، د قبرس ، اوپېښور ډلو جنگ ندی کړی .

ډابنز لیکي : موږ څوځله قانوني ته وویل چې دا نوري ډلي ستاسو داغوښتنه نه مني،خوقانوني نه قانع کېده، نوما د ایران استازي ،ظریف، ته وویل چې دا قانوني خو ستاسو سړی دی. تاسو پر ده باندي څه فشار واچوئ څو دا خنډ ایسته سي .ځکه زه غواړم چې ژر واشنگټن ته ولاړ سم او بل دا چې واشنگټن هم غواړي چې ژر تر ژره د افغانستان لپاره یوه انتقالي اداره ترتیب سي .ډابنز لیکي: د ایران استازي ظریف را ته وویل چې چرت مه وهه، موږ دا ستونزه دستي فیصله کوو. بله ورځ چې مجلس پیل سو ،قانوني بیا هغه زړې بابولالې شروع کړې. ماظریف ته وکتل ،ظریف سمدستي ولاړسو اوقانوني ته یې وویل چې ته راسه، ما اوتابه د اطاق په یوه گوټ کې څه خبري سره وکړو. قانوني یې یوکنج ته کی، او وروسته له څودقیقوڅخه قانوني بېرته مېز ته راغلی او وې ویل: زه ستاسو سره موافق یم، او هر ډول چې ستاسو خوښه وي هغسې به کېږي. غونډه څوورځي روانه وه،ځکه پدغه وخت کې که څه هم دمیدان گټونکی د B52 الوتکی واکدارو خوپه سیمه کې علاقمندوهېوادو وخت غنیمت باله اودخپلو کسانو پوسیله ئې غوښتل چې میدان ودوي ته پاته شي . یوبله ډېره مهمه اوجالبه مسله ده چې افغانان باید پرې خبرشي ، هغه دبن دکنفرانس دکار پر مخ بېولو اوزموږدجگړه ځپلي هېواد دسرنویشت ټاکلو په اړه دامرکادجمهوررئیس داستازي جمزډابنز بې ساري

عجله وه چي هرڅه بايد په منډه خلاص شي ځکه غواړي ژر امريکاته ولاړ سي . ښاغلي هاري صاحب په خپله کره کتنه کي له دې عجلې نه پرده پورته کوي ليکي (( د ډابنز له کتاب څخه څرگند ېږي چي هغه سخت په بېړه کي وو ، او غوښتل يې چي ژر تر ژره د طالبانو پر ځاى يو بل حکومت جوړاو واشنگټن ته راستون سي د افغانستان د نوي حکومت د محتوا او شکل په غم کي نه وو ؛ پدې غم کي هم نه وو چي امريکا د چا سره ايتلاف کوي؛ ددې پروايي هم نه لرله چي امريکا د افغانستان په نوي حکومت کي د شمال جنگي جنايتکاران تقويه کوي . )) لنډه دا چي ډابنز اوخليلزاد دواړو د ديموکراسۍ ،د قانون د حاکميت، د ثبات، اودپرمختگ دپروسې سره ستره لوبه وکړه . په حقيقت کي زموږ دهيواد دبرخليک دعاجلي ټاکنې په وخت کي په دې نامه چي وخت حساس دی،اوهر څه بايدژر ترسره سي دافغان ولس سره اساسي اونه بخښونکې جفاوسول .
ددغي لويې اوتاريخي تير وتني اويادځينو لخوا دقصدي اوله دښمنيوڅخه ډکي کړني دروند پېټي اوس دافغانانوملا ماته کړې او دسر په بدله ئې تاوان ورکوي .
دبن دکنگرانس په جوړېدوسره دافغانستان په سياسي تاريخ کي يوه بله پاڼه واوښتل پسله(( ۹)) ورځو جاروجنجال اونړيوالوفشارونه دافغانستان په اړوند دملگروملتودسازمان لخوارابلل شوی کنفرانس کارد يوتوافق ليک اوموقتي اداري دتشکيل په اړوند پريکړي سره پاي ته ورسېد .
دهمدغه کنفرانس د پرېکړوپه اساس دغيري متجانسو اومختليفونظرياتواوعقايدولرونکو په گډون چي اکثريت يې افغان ولس ته د قبول وړنه وه يوه اداره د (( موقتي اداري)) په نامه جوړه ا ښاغلی کرزی ددغي اداري دمشر په توگه وټاکل سو .
د ۲۰۰۱ زکال ددسمبرپر ۲۲ نېټه دشنبي په ورځ داستادرباني دناخوښيو په فضاکي دولتي واک ښاغلي کرزی ته تسليم کړ،اودولتي چوکی دبن دکنفرانس دپرېکړې له مخي پدي ډول وويشل شوې : شمالي ټلوالي ته دکورنيو ،دفاع اوبهرنيو چاروورازرتو په گډون ۵۵ مقامه ،دروم جريان ته ۳۳ پيښور جريان ته ۱۸ اودقبرس جريان تي چي ۸ نفره ئې هزاره وه ټولي ۱۶ څوکی ورسېدلې .ددغه ويش له مخې داله ورايه څرگنده شول چي هيوادبه هرو مروديوې بلي ملې غميزي په لور درومي ،ځکه ددغوکسانوله پخوانيوسياسي سوابقونه داهرچاته څرگنده وه چي يوخو به ددوي ترمنځ دقدرت اوشتمنيو پر سره تل پاتې جگړه اوسيالي روانه وي اوبل به ددوي لپاره بيله ددوي دپلويانو اوهغوکسانوپرته چي دملت سره دخيا نت ، ملي اوشخصي شتمنيودچورلپاره ئې ددوي سره دجوال خوله نيولې وي دمنلو وړنه وي ،چې وروسته همداسي هم شول اودالړئ داده تر اوسه روانه ده، ملک دتباهۍ په لوردرومی اودوي دخپلو چړچو اوپيسو په غم کښي دي.
ښاغلی ډابنز هم دامني اوليکي : دبن په کانفرانس کي دمسعودډلي ته تر بل هر چا زياته سياسي ونډه ورکړه سوه . فهيم ته دفاع ،عبدالله ته بهرنيو چارواويونس قانوني ته دکورنيوچارو وزارت ورکړه سو. دکابل حکومت په تمامه معنا د مسعود دباند په لاس کي ورکړه سو. په بل عبارت له لمړۍ ورځي څخه ددغه حکومت د مشرو عيت، ملي صبغې،اوقانونيت په باب افغانان شکمن سول .
ښاغلی ډابنز پخپله دهمدې ستري سياسي تيروتنې څخه ددفاع په موخه ليکي : موږ ځکه دشمال ايتلاف ته په راتلونکي حکومت کي غټه ونډه ورکړه، ځکه چي په کابل کي بله قوه نه و ه . د شمال ايتلاف کابل ونيو ،واقعا ، هغوی د کابل په ښارکي پوځي حاکميت لاره . نوبناً موږ نسوای کولای چي دهغوی د سياسي او نظامي شتون څخه سترگي پټي کړو. د ډابنز همدا ستره سياسي اشتباه ښايي د هغه د کار اوخدمت په دوره کي د هغه تر ټولو غټه خطا وي.
ښايي ډابنز وکړای سي چي خارجيان په همدې کمزوري منطق قانع کړي، خو افغانان د شمال ايتلاف پېژني اودغه ساده اوکمزوری استدلال اومنطق يې نسي قانع کولای . بله خبره داچي شمالي ټلوالي ته فهمول شوې وه چي دوي کابل ته ننوتو حق نلري ،مگر دوي دهمدغو امتيازاتو دترلاسه کېدولپاره چي ډابنز ورته گوته ونيول دخپلو بهرنيو معلمانوپه هدايت داکار وکړ . خوډابنزله دوی نه پوښتنه ونکړه چي ولي دوي پر خپل سره دکابل په ښار ننوتل ؟

ماته داوروستی حوادث اود پښتنوداوسېدوپه سیموکي دبې چوره اوخپل سري هوايي اوځمکنی عملیات چي تر ډېره بریده یوازي پښتانه پکښي قربانېږي ،دترورېست اوالقاعدي اوطالبانودسړودرک هم نشته ، د ډابنز هغه تکان ورکو نکې خبره راپیادوي چي وايي: ((. . . داچي شمالي ټلوالي ته زياتي چوکی ورکړه شوې يو بل دليل يې چي دامريکاد دفاع په وزارت او CIA په اداره کي داسي نظر دا ووچي پښتانه طالبان دي، اوپه هر ډول چي کېږي بايد پښتانه له قدرت څخه ليري وساتل سي .څرنگه چي طالبانو اسامه بن لادن اود القاعدې قاتلانو ته ئې دپټېدوځای برابر کړی وو ،بنأ دبوش اداري دگردوپښتنو سره دښمني را واخېسته اوغوښتل يې چي پښتانه په هر ډول چي وي مجازات، توهين ،اوبې واکه کړي . ددغه شيطاني پلان د عملي کېدو لپاره د شمال ايتلاف او بې واکه کرزي مناسب او ايډل خلک وه .ډابنز ليکي: د بن د کفرانس په افتتاحيه ويناوي کي يوه وينا هم په پښتونه وه . دا واقعيت پخپله دا ښيي چي هلته د پښتنو ونډه څونه کمه وه . رښتياهم داټولي بدمرغۍ پر پښتنودي ،همدا پښتانه اوس هم له يوې خوادطالب اوالقاعدې دنومونوپه نامه اودبلي خواد همدغوطالبانواوالقاعدې دسازمان لخوادخداي ورکړي ژوند څخه ددولت دپلويانوپه نامه وژل کيږي .ډېره ښه بېلگه ئي داکتوبردمياشتي پر ۱۶دلغمان دولايت څخه دايران په لوردغريبواوبې دفاع ۲۷ځوانانو ظالمانه اووحشيانه وژل دي .چي په تاريخ کښي به دنړيوالوپه ذهنيتونوکي دپښتنو اوزموږپه ذهنيتونوکي دطالبانوپر لمن دتورداغ په توگه پاته شي . جالبه وايي ددولت عسکر وه ،هر څوک چي وه هغوي دمخامخ جگړې په ډگرکي ندي وژل شوي ،بلکه پداي حال کي له ټومره راکشته سوی چي دغريبۍ په لور روان وه . داى داسلام څخه دسيا سي گټوپه موخه ناوړه اوغير انساني استفاده چي دافغان زملۍ ئي قربانيان شول . څنگه بياددغو کسانوسره دخبرولپاره څوک زړه ښه کړي اوپه دوي باور وکړي چي بله ورځ که په دولت کي ځاي ولري داسي نارواکارونه به نه کوي .

درنو لوستونکو دلته دهمدي علمناکي پېښي اوشهيدانوپه يادپه تاند ويب پانه کي دگران اوغښتلي قلم خاوند محمدنعمان دوست صاحب خپري شوى مرثيې لوستل اړيم بولم :

اسرافيله ع په شپيلۍ دې گوتي کېږده !! مرثيه

۲۰۰۸ زکال داکتوبر ۲۲مه

اسرافيله ( ع ) په شپيلۍ دې گوتي کېږده
پوکی ورکړه چي دا غرونه په هوا شي
دا دنيا شين سمندر او شين درياب شي
د ادم نسل له يو مخې پناه شي
اسرافيله (ع ) ، هديرې مو ډکي شوي
د قابيل غوندي مو خپل مرې په شا دي
پرېږده يو ورځې بې غمه شو له ژونده
هره ورځ دلته سلگۍ دي او ژړا دي
اسرافيله ع ! په لغمان کې وير ماتم دی
له هركوره سوې ساندې پورته کېږي
اسويليو په هوا وريځ جوړه کړي
بس له سترگو نه سرې اوښکې دې بهيږي
سترې ، سترې مزدوران دي چا وژلي
بوډا پلار سره يې وس د کفن نشته
د خپل زوی جسد ته غلی غلی گوري
له مورکۍ سره يې توان د گفتن نه شته

هلمندیانو ، کندهاریانو ولې ولې ؟ ؟
مساپر خلک په خپل کلي کې وژني ؟
د ډوډۍ غم پسې وتي وو له کوره
قلندر خلک په خپل کلي کې وژني ؟
میرویس نیکه! اولاد نه دې خبر یې ؟
سترې ـ سترې مزدوران یې راته مړه کړل
ترمې ـ ترمې یې په خاورو را ګوزار کړل
د لغمان تنکي ګلان یې راته مړه کړل
احمد شاه بابا ، موږ هم د تا لمسیان وو ،
هسې خوشې موږ با به نه وایو چاته
خو چې ستا په چم کې دا چارې را وشوې
خدای خبر که نور با با وو وایو تاته
کابل د لړم لومړۍ - یادونه : څو ورځې وړاندې د هلمند – کندهار پر لویه لاره، دکندهار په میوند ولسوالۍ کې نږدې ۳۰ تنه هغه بېوزله لغماني ځوانان چې ایران ته د مزدورۍ په نیت روان وو ، د طالبانو له خوا را ښکته او بیا ووژل شول . محمدنعمان دوست

په همدې ۲۰۰۱ کال دموقتي اداري دکارتر پیل دمخه پرېکړه وشوه چې د ۳۰۰۰څخه تر ۵۰۰۰ زرو پوري نړیوال پوځ دایساف دقواوو په نامه په افغانستان کښې دامنیت په ساتلو کې مرسته وکړي . داپرېکړه پدې خاطر وشوه چې نور دتنظیمو له وسله والو ډلونه دامنیت په ساتلو کې استفاده ونسي اودملي اردو اوپولیسو دلیکو تر تکمیلېدو پوري دامنیت راوستلو او ساتلو دنده به پر غاړه ولري . امریکافکر کاوه چې دطالبانو دتسلیمېدو په بڼه به په ټول هیوادکي امنیت او سوله هم دومره ژر تامین شي . خو داسي ونشول ددوپلاس جوړي شوې موقتي ،عبوري اداري اودغه او سنی دولت په خپلو ورسپارل شوودندو کي پاتي راغلل ،له یوې خواددولتي چارواکو دناوړ چلند ،په دولت کي ،ټوپکسا لارو ،تنظیمي قوماندانانو ،زورواکانو اوهغوچي لاوسونه ئي تر ځینګلو دخلکو په وینوسره وه اوپه جنګي جنایتونو تورنو کسانو شتون اودبلي خوادپاکستان داستخباراتي شبکولخوادموقع نه په استفادي سره دخپلي ژوري ستراتېژۍ دپلي کېدوپه موخه یوځل بیاتیت اوپرک طالبان راټول کړه په وسلوئي سمبال اوفغانستان ته دبهرنیانوسره دمبارزې په نامه راولېږل . دغه دوه عوامل ددې اساسي لامل شوه چې ددولت اوخلکو تر منځ واټن دومره زیات شي چې دادی اوس ترغاښوپه مډرنو وسلوبار ۶۰ زره لسیزه بهرنۍ اردونشي کولاي داډمن امنیت تامین کړي .
په همدې کنفرانس کي ببله دینه چې دهیوادله نور وسیاسي ډلو ،ګوندونواو روڼ اندوسره مشوري اوخبري وشي دافغا نستان دراتلونکی دولتي ماڼۍ خښته کړه کښېښودل شوه ،دغه کسان چې نومونه ئي واخیستل شول دبن کنفرانس ته رابلل شوی وه اوددوي په خوښه اومشوره ئي دیوداسي هیواد چې پر قومي اومذهبي جوړښت سربېره ډیر پېچلۍ سیاسي جوړښت هم لري دبهرنیانولخوائي پر خپل سر برخه لیک وټاکل سو .
سره لدې چې دکنفرانس ترختمېدوڅو ورځې وړاندې په اروپاکښې دمیشتو افغان روڼ اندوپه ګډون دجرمني دفرانکفو رت په ښارکې دافغانستان داتلونکې په اړه له پخوانه پلان شوی کنفرانس جوړسو ،ددغه کنفرانس په غونده کې دافغانستان اوسني دمالي وزیر ښاغلي احدي ،فاطیمه ګیلانی اودپېښور له جریان څخه یو استازي چې همدا لحظه ئي زمانوم هیردی برخه واخیستل . زه دهمدې کنفرانس یوله جوونکو ،ګډونکواو ویناوالوڅخه وم ،کله چې موله دغوښاغلواواغلو نه دبن دکنفرانس دجریان په اړوند قیصې واورېدې ،اوددوي په نظریاتو خبر شوو ،پدې پوره باوري شولوچې داوړۍ نه شړۍ کیږي، دا کښتۍ ډوبه بوله ؛ چې متاسفانه همداسي هم شول .دادی د ۷ کلونوپه تیرېدو سره داجوته شول چې دبن په کنفرانس کي دخلکوارادې اوغوښتنوته غوږ نه وو نیول شوی اوبهرنیانودخپلوغوښتنواوخپلو

لاسپوڅو لخوادافغانستان لپاره يوه اداره جوړه اوپر همدې کاره ديوال ئې ديوې درنې ماڼۍ دجوړيدولپاره په ميلياردو ډالر مصرف اوپه زرهاو انسانان قرباني کړه ،خوپايله داسوه چې اوس بايد هرڅه له سره پيل سي . درونړ اندو اوخواخوږو په عوض ټوپکمار او جنګسالارو ته دولتي واک پلاس ورکړه سو ،اوپر قدرت باندې ددوې پاته کېدل دوام لري ، تر څوچې داکسان او همداتنظيمونه وي نوهرومرو به په هيوادکې دهر اوښتون دماڼۍ ديوال په نهايي تحليل کښې تعميرکوونکي وي .

د هغه دلوي شاعر شعر دی چې وايي :

سنګ اول چون نهد معمارکج تا ثر يامیرود ديوارکج

دهمدې سولې راوستونکوخواکونولوړی قرباني هغه ۶۵ قومي مشران شول کوم چې دافغانستان له جنوبي سيمونه دقدرت دانتقال په مراسموکې دګډون لپاره کابل ته راتلل .داسې ويل کيږي چې يوې ډلې نه غوښتل ترڅو دپښتنو مشران هغه هم له پکتيانه دقدرت دتسليمېدوپه مراسمو کې برخه واخلي، ځکه ئې دخپلو نوکرصفتو اجنټانو پوسيله بهرنيو ځواکونوته دروغجن اطلاعات ورکړه اوهغوی ئې ددښمن په نامه په بهرنيانو له ژوند نه محروم کړه .

دبن دکنفرانس دپريکړو په اساس دموقتي اداري په دوران کې يوه استراري لويه جرګه د۲۰۰۲ زکال د جون پر ۲۲ نيټه جوړه سوه، دجرګې په پايله ښاغلي کرزي ته دعبوري اداري مسؤليت هم ور په غاړه شو اودده سره ملګروتنظيمو اوډلوپه مشوره دعبوري ادادرې چارواکي وټاکل .

په عبوري اداره کې جنګسالارو او تنظيم سالاروبيا غوښن مقامونه تر لاسه کړه کوم چې دهمدې لپاره ئې شپه او ورځ تلاښ کاوه ، په دولتي اداروکښې پوهو اولايقو کسانو ګمارل يو ځل بيا هيرشوه.

دهمدوی په واکداري کښې په لسهاوو زره مسلکي اودپوهي خاوندافسران،کارپوهان اودولتي مامورين په مختليفو نومونواوبهانوله کاره ګوښه شول ،اوپرځاي ئې له غرو راکښته شوی اوله ټوپک سره عادت کسان په وسله والوادارو کې دهغوي دخوشحالي لپاره وټاکل ،نوردولتي مقامونه هم پر اړېکواوتنظيمو ووېشل شوې . داپدې خاطر چې هر تنظيم اود امريکاپه زورپه دولت کې راګډ ې شوی ډلوغوښتل په هرشکل چې کيږي ځانته نږدې اووفادارکسان په دولتي دندو وګماري . دغه سيالي اوجنجال تر هغه دولت پوري هم راورسيدکوم چې په ۲۰۰۴ کال داساسي قانون له مخې تر ټاکنو وروسته جمهور رئيس ددولتي ارګانو چارواکي ټاکل .

دعبوري اداري دډندوپر اساس داساسی قانون دتصويب لپاره لويه جرګه راوغوښتل شوه ،داجرګه دتيرې جرګې په پرتله دقدرت پر سر دسياليو اوهيوادسره ددښمنۍ په کچه ډيره تاريخي وه . تر شلو ورځو زيات ئی دوام وکړ، ځکه پدی جرګه کی زياتی چني ووهل شوي،دځينو پرخوله مهرونه ولګيدل،هرچاغوښته خپل واک اوقدرت دافغانانواوبهرنيانو ننداري ته وړاندی کړي، نږدې ؤ چې دقدرت پر سر دملي ضد سيالوپه پايله کښي جرګه بيله کومی پريکړی پاي ته ورسيږي ، دبهرنيانوئی کور ودان چې خپلولاس پوځوته يی غاښونه وچيچل او هغوی ئی يو ډول جوړجاړي ته په هځولو سره افغانان له ده شرمه وژغورل ، اوجرګه ديو پايلي په لرلوسره پاي ته ورسېده . هير بايد نشي چې په همدې جرګه کښی دافغان ولس دلوي اکثريت درواومسلمو حقوقو پر خلاف پريکړې وشوې او داسي اساسی قانون تصويب شوچې ترهيڅ بنه ،ولې دپلی کولو پايلی ئی زياتي ناندريز شوې . په همدې لويه جرګه کې سيالی اوخپلوکرغېړنو موخو ته ځان رسول ددې لامل شوه چې تراوسه دولت پر قرارنه دی اوله ښاغلي کرزی نيولې بيا په دولت کې ټول شريک اړخونه يوازې اويوازې خپلې تنګی اقتصادي، سياسي،فرهنګی اوتنظيمي ګټې لټوي . ټول ئي ګوري چې وطن دبهرنيو په لمسون اوګډون داورپه لمبوکې سوځی دوي خپلي چرچې کوي .

دټولوناخوالوسره په ۲۰۰۲ زکال دجنوري د مياشتې په۲۱نيټه دجاپان دتوکيو په ښارکې دامريکا، اروپايي هيوادو، نړيوال بانک،داسيادپرمختيا بانک،دملګروملتووجهي صندوق،جاپان ،سعودي عربستان،روسې، هند او ايران داستازوپه ګډون لويه غونډه جوړه سوه ، دنړی زياتو هيوادو دهر اړخيزو مرستو وعدې وکړې ، دهمدو وعدوپر بنيادپه ملياردو ډالر افغانستان ته راغلل . تر هغه وروسته په ۲۰۰۳زکال دمارچ په ۳۱نيټه د ((۵۴)) هيوادو دبهرنيو چارو د

وزیرانو او استازوپه ګډون په برلین کي دافغانستان سره دمرستوپه خاطر بل کنفرانس داير سوچي داپريل پر اوله پاي ته ورسېد.پدغه کنفرانس کي کرزي د ۲۸میلیارډ ډالرو مرستو دتر لاسه کولوورانديز وکړ ، وروسته پرېکړه وسوه پر پخوانيو وعده سوو مرستو سربيره دي د افغانستان سره نور 8,2 ميليارډه ډالره مرسته وسې . خو متاسفانه عامو افغانانو ته کوم څه پکښي وه نه رسېدل ،غټه ګټه يي چي هره ورځ ئې چارواکې يادوي دکندهار --کابل دلويې لاري ډمبرکېدل دي ،چي هغه هم پسله شپږمياشتوبيا جوړونې ته ضرورت پيداکړ .
سږ کال د اکتوبر پر اوومه د دې غم لړلي ورځي اووه کاله پوره شول ،البته پدي کلو کښي يوه اندازه کارونه تر سره شوي دي ،مګر ددومره پيسو ،مادي ،مالي اوتخنيکي امکاناتوپه لرلوسره يو فيصد هم نشي محاسبه کېداي . ډير کارونه لکه دمطبوعاتو ،بيان اوعقيدې آزادي ،دښځو اوماشوم حقوقوتامين ،بشري ازادی ،سوله رشتيانی دموکراسي ،انساني کرامت ،ملکيت اوټاټوبي خوندي ساتل لاتر اوسه زموږ دهيوادوالو لپاره دخوب ليدومعنا لري .په کابل اوځينو ښاروکي دنګی ودانۍ ،ښکلي اومجلل هوټلونه ،مارکېټونه اورستورا نتونه چي افغان ولس دوينو اوبهرنيو مرستو ياهيروئينو دېټي اوښکاره سوداګری په حرامو پيسو جوړ شوی ياڅوتلويزيوني اوراديويي شبکې فعالي شوی اويادارونده چارواکو په وينا ۴،۵ ميليونه موبايل ټليفونونه دخلکودا استفادي ورګرځېدلي ،چي هغه هم کاشکي دولتي ملکيت واي په هيڅ صورت اوسنی اداري ته برائت نشي ورکولاي . ټوله ملي شتمنی دچارواکواودهغوي دنږيوالوملاترو لخوادچوراوچپاول په موخه دازادبازار په نامه دځانګړوکسانواوبهرنيوکمپنيودګټو قرباني شول . تر ۲۰۰۴ کال وروسته کله چي ښاغلي کرزی دټاکنو په پايله کښي دجمهوررئيس په توګه وټاکل شو ،خلکوته ئي ډيري وعدې ورکړي ،خويوه ئي پلې نه کړه له دغوناکاميو او ناخوالو سره اوس يوځل بيا غواړي پر دې زوريدلي ملت ځان دبهرنيانو په زورددوهم ځل ټاکنو په نامه دجمهور رئيس په توګه وتپي . دغووعده خلافيواوله افغان ولس سره دبهرنيانو سپک اوناوړه کړنو ،په پاکستان اوايران کي د استخباراتي شبکوپه هدايت دبنسټپالوپوسيله ناروا تبليغاتوزموږ يوشمير هيوادوال وهڅول چي غروته پورته شي اووسلې ته لاس کړي .زه خپله ديو افغان په توګه ددغو نا ارامیو ريښه څومره چي په پاکستان،ايران اونوروليري اونږدې ګاونډيانوپه ګټو کي وينم همدومره ئي د ۲۰۰۱ کال راپدې خوا دامريکا اونړيوالي ټولنې تر مستقيمي حمايي اوملاتړلاندي دولتي حاکميت په ناوړه،غير مسولانه اونارواکنوکښي هم وينم .پدي هکله په تفصيل سره ددې ليکنې په نوروبرخوکي .نوربيا